# د چرسو، افیونو او نورو نشائی څیزونو حکم

مؤلف
ابو محمد امین الله البشاوری
حفظه الله تعالی

جمع وترتیب
ابوخالد لائق احمد غزنوی



مکتبه محمدیه
منگل مارکیټ بیرون گنج پیښور

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# فهرست


| صفحه | مضمون |
|---|---|
| ۷ | سریزه ........ |
| ١٤ | دَ چرسو او دَ افیونو او دَ نورو نشائی څیزونو حکم...... |
| ١٩ | دَ قرآن کریم نه دلائل........ |
| ٢٧ | دَ سنت نه دلائل........ |
| ٣٢ | د صحابه کرامو او تابعینو آثار........ |
| ٣٤ | اعتباری (عقلی) دلیل........ |
| ٣٦ | د علماء کرامو اقوال........ |
| ٥١ | دَ افیونو تجارت........ |
| | دَ افیونو او نورو نشه راوستونکو څیزونو استعمال |
| ٥١ | او کارو بار او تجارت کول حرام دی........ |
| ٥١ | اول دلیل د قرآن نه........ |
| ٥٢ | دویم دلیل ........ |
| ٥٢ | دریم دلیل........ |
| ٥٣ | څلورم دلیل........ |
| ٥٤ | پنځم دلیل ........ |
| ٦١ | په دوائی کښې افیون استعمالول........ |
| ٦١ | افیون او نور نشائی مواد په دوائی کښې استعمالول.... |

ketabton.com - The Digital Library




| | |
|---|---|
| دَ دوائی په طور دَ حرامو استعمالولو په باره کښ دَ | |
| د علماء کرامو اقوال ........................ | ٦٣ |
| دَ چرسو، افیونو او نورو نشائی څیزونو ضرورنه ........ | ٨٦ |
| سگریټ، چیلم او نسوارو حکم ........................ | ٩٢ |
| دَ سگریټ، چیلم او نسوارو شرعی حکم ............ | ١٠١ |
| سگریټ، نسوار او چیلم اخستل خرخول حرام دی ...... | ١٠٦ |
| په دے حقله دَ علماؤ نظر ........................ | ١٠٨ |
| دَ جواز دَ قائلینو دلائل ........................ | ١١١ |
| دَ جواز ورکونکو خلقو دَ بعضے شبهاتو جوابونه ........ | ١٢٢ |
| دَ افیونو او نورو نشه راوستونکو څیزونو په روپو | |
| کښ دَ زکوة ورکولو حکم ........................ | ١٢٩ |
| آیا په حرام مال حج کیږی ؟ ........................ | ١٣٣ |




بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادی له واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له واشهد ان محمدا عبده ورسوله.

**اما بعد:**

اسلام یو کامل او جامع دین دے چه په دے کښے هیڅ کمے نشته، ترقیامته پورے چه څه مسئله او حادثه راپیښیږی نو دَهغے جواب په دے دین کښے موجود دے۔

د اسلام دکاملیت اوجامعیت شهادت خپله قرآن کریم کښے بیان شویدے الله رب العالمین فرمائی:

﴿اليوم اكملت لكم دينكم﴾

(نن ورځ ما تاسو دپاره ستاسو دین پوره کړو)۔

اوس په دے دین کښے هیڅ قسم زیادت ته ضرورت نشته۔

بل ځائے الله رب العزت د قرآن کریم په باره کښے فرمائی:

﴿تبياناً لكل شئ﴾

ketabton.com - The Digital Library



ترجمه : دا کتاب دَهر شي بیانونکے دے۔

نو ددے یو آیت نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ دوفات کیدو نه روسته په دین کښے هیڅ قسم زیادت او نقصان نشی راتلے۔

اوددے دویم آیت نه معلومه شوه چه داسے مسئله نشته چه الله رب العالمین دوحی په ذریعه نه وی بیان کړے، برابره خبره ده که هغه وحی جلی (د قرآن په صورت کښے) وی یا وحی خفی (د حدیث په صورت کښے) وی ولے چه دا شرح او تفسیر دے د قرآن کریم دپاره ۔

او دا مسئله کله په قرآن حدیث کښے صراحةً ذکر وی، اوکله دیوے قاعدے لاندے راځی۔

د قرآن کریم اکثر مسائل کلی اود قاعدے په شکل وی اوپه دے کښے فائده دا وی چه انسان ته چه په یوه مسئله د قاعدے او کُلیے په شکل کښے ذکر شی نوزر او په اسانتیا سره ورباندے پو هیږی او دے کښے اختصار هم وی، رسول الله ﷺ ته الله رب العزت جوامع الکلم ورکړی وو، چه یوه خبره به ئے اوکړه نو ډیر مسائل به دهغے لاندے راتلل۔

ددے ډیر مثالونه دی، لیکن دلته یوڅو د فائدے پوره کولو دپاره ذکر کولے شی :

۱ – **مثال** : حدیث کښے راځی :



ان رسول الله ﷺ نهی عن کل ذی ناب من السباع.

(رسول الله ﷺ د هر داړو والا حیوان خوړلو نه منع فرمائیلے)۔

نو په دے کښے سپے، شرمخ، زمرے، پړانګ، ګیدړ، اونور ټول درنده ګان داخل شو۔

۲ – **مثال** : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

کل بدعة ضلالة

یعنے : هربدعت ګمراهی ده۔

بل ځائے ارشاد دے :

من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد۔

یعنے : چاچه یوداسے عمل اوکړو چه زمونږ دطریقے نه خلاف وو نو هغه مردود دے۔

نو په دے یو حدیث باندے په سوونو بدعات رد شول، که هغه په عباداتو مونځ، زکات، روژه، حج کښے وی، اوکه په غم، خوشحالئ کښے وی۔

اوس دے یو جاهل دا نهٔ وائی چه داخبره په قرآن او حدیث کښے نشته چه زمرے یا پړانګ وغیره مردار دی۔

دغه شان یو بدعت کوی اودا وائی چه دے نه خو رسول الله ﷺ منع نه ده فرمائیلے، نو ددے جواب دادے چه هر بدعت باندے رسول الله ﷺ رد کړیدے او هغه ئے ګمراهی،

ketabton.com - The Digital Library



ضلالت او مردود ګرځولے دے۔

نو اوس چه څه شے دبدعت په تعریف کښے راغے هغه به داسے مردود او ضلالت وی لکه رسول الله ﷺ چه ددے بعینه نوم اخستے وی۔

۳ – مثال : کوم چه زمونږ زیر بحث موضوع ده، هغه دا چه چرس افیون، بهنګ، سګریټ وغیره نشائی څیزونه حرام دی۔

او دلیل ددے دا قول د پیغمبرِ اسلام ﷺ دے :

کل مسکر خمر (رواه مسلم)

یعنے : هرنشه راوستونکے شے شراب دی۔

بل ځائے ارشاد دے :

کل مسکر حرام، وما اسکر منه الفرق فملأ الکف منه حرام۔

(ابوداود (۲/۱٦۳) ترمذی (۲/۹)

(چه دیو څیز شپږ کلو استعمالولو سره نشه راځی، نو دهغے نه دیو ورغوئی په اندازه استعمالول هم حرام دی)۔

نو په دے کښے چرس، بهنګ، چیلم، سګریټَ، افیون ټول نشه آور څیزونه داخل شو۔

بعضے خلق وائی چه : چیلم، سګریټ نشه نه لری، نوداخبره سراسر دروغ دی ځکه که یو کس چه په دے عادت نه وی او چیلم نه مسلسل یو څو کرته راکاږی نو په ده



باندے سرګرځی، په نظر کښے ئے تغیر راځی، قئ ورځی، خبرو کښے ئے تغیر راځی، اوهمدے ته نشه وائی، نشه کیدو کښے داضروری نه ده چه انسان دے په کښے داآواز اولګوی چه زه نشه یم۔

نو کله چه یوه مسئله په قرآن اوحدیث کښے د یوے قاعدے په شکل بیان شوے وی، یا قرآن او حدیث کښے په یوه مسئله باندے د قاعدے کلیے په شکل رد شوے وی نو بعضے خلق هغه جائز ګنړی، دین کښے بدعات یانور ناجائز کارونه کوی، اوکه څوك په دهٔ رد اوکړی چه دا خو خلافِ سنت کار کوی، نو دے فوراً وائی چه قرآن اوحدیث کښے خو دا نشته چه دا فلانے بدعت مه کوئ یا دا فلانے کار حرام دے، دارنګ قرآن او حدیث ددے کار نه منع نهٔ ده کړے۔

او دا جاهل مرکب دے ته نهٔ ګوری چه شریعت خو په هر بدعت باندے رد کړے، نو هرچاچه څه قسم بدعت اوکړو دابه د رسول الله ﷺ په ژبه رد وی۔

ددے مسائلو د جملے نه یوه مسئله نن صبا د افیونو، چرسو، سګریټو اونورو نشه آورو څیزونو ده، چه خلق د دنیا او روپو پیسو حرص اولالچ راخستی دی، او امتحاناً نن صبا په دے ګندونو کښے روپئ پیسے هم ډیرے دی۔

ketabton.com - The Digital Library



شیخ ابو محمد امین الله حفظه الله ددے مثال د بنی اسرائیلو دهغے واقعے سره ورکوی چه په کومه ورځ الله رب العزت دوئ دکبانو دښکار نه منع کړی وو نو په هغه ورځ به ئے د اوبو په سر دوئ ته کبان ډیر کړل، اودا به په دوئ باندے امتحان وو۔

په دے اوسنو خلقو باندے هم دالله رب العزت دطرفه امتحان دے چه دوی ته په هغه څه کښے روپۍ پیسے ډیرے ملاویږی کوم چه حرام وی، لکه افیون، چرس، پوډر وغیره ګندونه شول۔

په دے موضوع باندے شیخنا فقیه العصر ابو محمد **امین الله** البشاوری حفظه الله یوه فتوی لیکلے چه دهغې نوم دے : [ **البرهان فی حرمة الافیون والحشیشة والشمة والقات والدخان** ]۔

ما دهغے رسالے نه په دے رساله کښے خلاصه راخستے ده۔

دغه شان په دے موضوع باندے ابو سفیان عمر شریف حفظه الله هم یوه فتوی د اشتهار په شکل کښے لیکلے ده چه دهغے نه مے هم استفاده کړے ده۔

دغه شان دَ نورو علماؤ او اطباؤ د اقوالو نه استفاده کړے شوے ده - اوپه دے رساله کښے مونږ اول داثابته کړے چه چرس، بهنګ، افیون نشه راوستونکی شیزونه دی



او د دے نه پس د قرآن او حدیث نه دا ثابته کړے شویده چه د هر قسمه مسکراتو (نشه آور شیزونو) استعمال منع دے، ددے کرل، اخستل، خرڅول، په دوایانو کښے استعمالول هرڅه حرام دی۔ او د علماؤ او اطباؤ د اقوالو نه هم ثابته شویده دا شیزونه د ضرری کیدو په وجه حرام دی، اوبیا ددے تفصیلی ضررونه ښودلے شوی دی۔

لیهلك من هلك عن بینة، ویحی من حی عن بینة .

الله رب العالمین دے ماته اودغه شان ټولو لوستونکو اوریدونکو ته ددے نه فائده اورسوی۔ اودا رساله دے الله تعالی زما دطرفه صدقه جاریه اوګرځوی۔

★ **په آخر** کښے زهٔ د خپل ګران استاذ ابو سلمان حضرت محمد حفظه الله شکریه اداء کوم چه دا رساله ئے په ډیر اخلاص سره په کمپیوټر اولیکله، اوماسره ئے ددے په لیکلو کښے ډیره مرسته اوکړه۔

وصلی الله علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه اجمعین

وسبحانك اللهم وبحمدك

اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك

وکتبه : ابو خالد لائق احمد الغزنوی

شعبه افتاء : جامعه تعلیم القرآن والسنه

مسجد حمزه بیرون ګنج ګیټ پیښور ښار پاکستان

❋❋❋❋❋❋❋❋

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د چرسو، افیونو او نورو نشائی څیزونو حکم

چرس، افیون او نور نشائی څیزونه دَ نشے راوستو په وجه حکماً شراب ګڼړلے کیږی، صرف په حد کښے ئے بعض علماؤ فرق کړیدے، باقی په نورو احکامو کښے ئے هیڅ فرق نشته۔

اوس دا خبره چه افیون اوچرس په منشیاتو کښے داخل دی که نه ! آیا نشه راولی اوکه نه !

نو د افیون اوچرسو دخصوصیت نه، او ددے په خوړونکو باندے چه کومو اثرات ظاهریږی هغے نه داخبره واضح ده، چه دا مسکر او نشه راوستونکی څیزونه دی۔

افیونو د مسکر اونشائی کیدلو نه به شاید هیڅ یوعقل والا مسلمان هم انکار اونکړی، لیکن بیا هم د فائدے کولو دپاره یو څو عبارتونه دعلماؤ وګورئ چه په دے حق هغوی څه فرمائیلی دی:

۱- مفتی کفایت الله صاحبؒ فرمائی:



افیون، چرس، بهنګ ددے ټولو څیزونو استعمال حرام دے ځکه په دے سره انسان نشه کیږی، اوداپه دے حدیث درسول الله ﷺ کښے داخل دی چه :

نهی رسول الله ﷺ عن کل مسکر ومفتر

یعنے: رسول الله ﷺ دهر نشه راوستونکی او خومارتیا پیدا کونکی څیز نه منع فرمائیلے ده۔۔۔۔۔بیا فرمائی :

چرس، افیون، بهنګ داڅیزونه حرام دی ځکه نشه راولی، یادنشے آثار اونتائج پیدا کوی۔

(کفایة المفتی (۹/۱۱٤، ۱۳۲)۔

۲- مفتی رشید احمد صاحب هم په احسن الفتاوی کښے افیونو ته مسکر اونشه پیدا کونکی وئیلی دی (۸/٤٨٤)۔

۳- علامه شامیؒ هم دافیونو دنشے پیدا کولو تصریح کوی فرمائی : ویحرم اکل البنج والحشیش والافیون لانه مفسد للعقل ویصد عن ذکر الله وعن الصلاة.

(بنګ، چرس او افیون خوړل حرام دی ځکه دا عقل او دماغ خرابوی اود الله تعالی د ذکر او مانځه نه بندول کوی)۔

(شامی : ۵/۲۹۵)۔

٤- فتاوی مجمع البرکات کښے دی :

ولا یجوز اکل البنج والحشیش والافیون وذلک کله حرام، لانه

ketabton.com - The Digital Library



مفسد للعقل الخ کذا فی الجوهرة.

(بنګ، چرس، افیون خوړل جائز نه دی، بلکه دا ټول څیزونه حرام دی، ځکه عقل خرابوی).

۵ – علامه عینیؒ ددې حدیث شریف (الخمر ما خامر العقل) په شرح کښې لیکی :

الحدیث شامل للحشیشة ولبن الخشخاش

(عمدة القاری شرح البخاری (۹/۲۱۱) و (۱۱/۱۸۲).

(دا حدیث افیونو او چرسو ته هم شامل دې).

٦ – مولانا منظور نعمانیؒ لیکی :

ددې حدیث نه دیوې قاعدې په شکل دا معلومه شوه چه د څه شی د خوراك یا څښاك په وجه چه نشه پیدا کیږی او د مونځ غونته عمل نه انسان غافله کوی، دا په اسلامی شریعت کښې منع دې، د بنګو اونورو بوټو هم دا حکم دې.

(معارف الحدیث ٦/٢٤٦).

٧ – علامه شمس الحق عظیم آبادیؒ فرمائی :

اما الافیون فمفرط فی الاسکار.

یعنې هرچه افیون دی نو دا خو ډیره زیاته نشه راولی.

(عون المعبود ٣/٣٧٧)

٨ – دغه شان په موارد الظمآن لدروس الزمان (٣/٥٠٧)، او



٩ – په سبل السلام کښې هم دی.

١٠ – فقه السنه (٢/٣٤٨) کښې دی :

دچرسو اونورو منشیاتو نه زیات مضر اونشه پیدا کونکې څیز افیون دې، اودائې هم فرمائیلی دی :

ان مایزیل العقل من غیر الاشربة مثل البنج والحشیش والافیون فانه حرام لانه مسکر.

(هرهغه شې چه عقل ختموی دشرابو نه سیوا لکه بهنګ، چرس اوافیون نو دا حرام دی ځکه چه دانشه آور دی). (فقه السنة : ٣٤٤).

١١ – فقه اسلامی کښې دی :

او هرهغه شې حرام دې چه عقل زائله کوی لکه بنګ، چرس او افیون شو. (الفقه الاسلامی وادلته : ٦/١٦٦).

١٢ – علامه ابن حجرؒ په الزواجر (١/٢١٢) کښې لیکی:

چرس، افیون، او بهنګ حرام دی، اودا ټول نشه پیدا کوی.

١٣ – شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ لیکی :

چرس دشرابو نه زیات خبیث دی، ځکه داعقل او مزاج دواړه خرابوی (السیاسة الشرعیة).

١٤ – امام ذهبیؒ هم لکه د شیخ الاسلام لیکلی چه چرس دَ شرابو نه زیات خبیث دی ځکه دا عقل او مزاج دواړه خرابوی او شراب اوچرس دواړه انسان د الله د ذکر

ketabton.com - The Digital Library



اومانځه نه منع کوی۔ (الکبائر للامام الذهبیؒ ص (۸٦)۔

۱۵ – علامه ابن القیمؒ فرمائی :

دشرابو په حکم کښې هر نشه آور څیز داخل دے اودیکښې چرس هم داخل دی – (زاد المعاد)۔

۱٦ – ددار العلوم حقانیه مفتی اونګران درجه التخصص مولانا مفتی غلام قادر صاحب لیکی :

افیون بذاتِ خود مسکر څیز دے۔

(د افیونو تجارت دشریعت په رنړا کښې : ص ۱۸، ۳۲)۔

۱۷ – مولانا عمر شریف صاحب هم د پوستړ په شکل یوه فتوٰی لیکلے اوپه هغے کښې ئے دډیرو علماؤ اقوال راجمع کړی چه چرس، بهنګ او افیون نشه آور څیزونه دی۔

۱۸ – علامه ابن حجر عسقلانیؒ فرمائی :

ان من قال : ان الحشیشة لا تسکر وانما هی مخدرة : مکابر الخ

(فقه السنه : ۲/۳٤۷)۔

هرکله چه دامعلومه شوه چه چرس او افیون نشه راوستونکو څیزونه دی نواوس په شریعت مطهره کښې دمسکراتو اونشه آور څیزونو حکم اوګورئ :



# د قرآن کریم نه دلائل

۱ – **دلیل :** قال الله تعالی :

﴿ویسئلونك عن الخمر والمیسر ......﴾ الآیه۔

علامه آلوسیؒ ددے آیت په تفسیر کښې فرمائی :

ان ما اسکر حرام کالخمر۔

کوم شے چه نشه راولی هغه دشرابو په شان حرام دے۔

بیا فرمائی :

وعندی الحق الذی لا ینبغی العدول عنه ان الشراب المتخذ بما عدی العنب کیف کان وبای اسم کان بحیث یسکر من لم یتعوده حرام قلیله ککثیره، ویحد شاربه ویقع طلاقه ونجاسته غلیظة الخ. (روح المعانی : ۲/۱۱۲، ۱۱۳)۔

(زما په نیز باندے هغه حق چه دهغے نه اوړیدل پکار نه دی دادے چه دانګورو نه سیوا چه دکومو څیزونو نه شراب تیار شی، که هغه په هر نوم وی هرڅنګه چه وی خو چه څوك پرے عادت نه وی هغه نشه کوی، ددے لږ هم دډیرو په شان حرام دی، اوددے څښونکی ته به حد ورکولے شی اوطلاق ئے واقع کیږی او نجاست ئے غلیظ دے)

علامه غلام الله خان پنجابیؒ فرمائی :

ketabton.com - The Digital Library



خمر اوشراب نه هر هغه شیز مراد دے چه نشه راولی اوعقل کښے فتور اوسُستیا پیدا کوی، برابره خبره ده که دهر څه نه تیار شوے وی، او برابره خبره که ددے هرنوم کیخودلے شوے وی۔ (جواهر القرآن: ۱/۱۵).

۲ – **دلیل**: قال الله تبارك وتعالى:

﴿ يآايها الذين آمنوا ان الخمر والميسر ...... ﴾ الآية، مائده: ۹۰۔

امام رازیؒ ددے آیت په تفسیر کښے داسے لیکی:

واعلم ان من انظر وترك الاعتساف ان هذه الآية نص صريح فى ان كل مسكر حرام ثم بين وجهه۔

(ځوك چه دے آیت ته دانصاف په نظر سره اوګوری او ضد اوتعصب پریدی نو هغه به پوهه شی چه دا آیت صریح نص دے په دے چه هر نشه پیدا کونکے شے حرام دے)۔

(تفسیر کبیر: ۸۲۰/۱۲)

علامه ابن القیمؒ فرمائی:

ان الخمر يدخل فيها كل مسكر مائعاً كان او جامداً، عصيراً او مطبوخاً (زاد المعاد)

(دشرابو په حکم کښے هرنشه آور شیز داخل دے، برابره خبره ده که هغه نرم وی که کلك، خام وی که پوخ شوے)۔

۳ – **دلیل**: قال الله تعالى:



﴿ ولا تاكلوا اموالكم بينكم بالباطل ﴾

(خپل مینځ کښے دیو بل مالونه په باطلو طریقو سره مه خورئ!)

دباطل خوړلو دوه صورته دی:

(۱) – یو داچه د ظلم، غلا، خیانت اوغصب په طریقه دچانه مال واخلی او وے خوری۔

(۲) دویم داچه: د چانه مال په داسے طریقه واخلی چه په هغه طریقه مال حاصلول په شریعت کښے منع وی، لکه چانه مال په قمار (جواریٔ) اخستل، دسودپه ډول، دشرابو خرڅولو په ذریعه یا ددے نه علاوه دنور نشه آور شیزونو په ذریعه باندے۔

۴ – **دلیل**: قال الله تعالى:

﴿ الذى يتبعون الرسول النبى الذى يجدونه مكتوباً عندهم فى التوراة والانجيل يامرهم بالمعروف وينهاهم عن المنكر ويحل لهم الطيبات ويحرم عليهم الخبائث ويضع عنهم اصرهم والاغلال التى كانت عليهم ﴾ الآيه۔

(هغه کسان چه درسول اُمی تابعداری کوی چه دوی ئے دځان سره په تورات اوانجیل کښے لیکلے بیاموهی، د نیکیٔ حکم ورته کوی او دبدیٔ نه ئے منع کوی او پاکیزه شیزونه ورله حلالوی او خبیث شیزونو پرے حراموی او ددوی نه بوجونه اوهغه طوقونه لرے کوی چه په دوی

ketabton.com - The Digital Library



باندے مخکښے پراته وو۔

دے آیت نه معلومه شوه چه داد رسول الله ﷺ صفت دے چه هرقسم خبیث کار ئے حرام کړیدے۔ اوخبیث هرهغه څه ته وائی چه روغ عقل اوپاك فطرت خرابه وی، اوپه دے کښے هیڅ شك نشته چه داڅیزونو دهر ذی عقل په نیز خبیث دی، تردے چه څوك ددے نشه آور څیزونو کار کوی اوددے عادت وی هغوی ته هم دابد او خراب څیز ښکاری، لیکن هغوی دخپل عادت نه مجبوره وی۔

نو مذکوره آیت دلیل دے په حرمت ددے څیزونو باندے۔

**۵ - دلیل**: قال الله تعالی:

﴿ یسئلونك ماذا احل لهم قل احل لهم الطیبات ......﴾ الآیة

(تپوس کوی دوی ستانه چه څه شے دوی دپاره حلال کړے شویدے، ورته اووایه! پاکیزه څیزونه ورله حلال شویدی)۔

ددے آیت کریمه دمفهوم نه معلومیږی چه دطیب څیز نه علاوه دخبیث څیز استعمال جائز نه دے، ځکه انسان دپاره صرف طیب (پاکیزه) څیز حلال کړے شویدے، اودا ښکاره خبره ده چه دا نشه آور څیزونه (چرس، افیون، سګریټ، نسوار، وغیره) په یوه وجه او طریقه هم طیب (پاکیزه څیزونه) نه دی۔



**۶- دلیل**: قال الله تعالی:

﴿ والذین یؤذون المؤمنین والمؤمنات بغیر ما اکتسبوا فقد احتملوا بهتاناً واثماً مبیناً ﴾

(هغه خلق چه مومنانو سړو اومومنانو ښځوته په غیر ددے چه دوی څه بد کار کړیدے ضرر رسوی نو یقیناً چه دوی دبهتان اود ښکاره ګناه بوج پورته کړو)۔

ددے آیت کریمه دعموم نه دامسئله معلومیږی چه هرهغه کار چه مومنانو ته ضرر رسوی، حرام دے، اوپه دے کښے بعضے شیان لکه سګریټ، شمعه انسانانو اوملائکو دواړو ته ضرر ورکوی، اوزما محترمه روره! که چرے ته په یوګاډی کښے سور شے اوتاباندے دسفر تکلیف او سردردے هم وی، اوګنده سګریټ بوئے پتا اولګی نو یقیناً ته به هغوی ته ښیرے اوکړے، اوته به صرف ددے وجے نه هم دحرمت فتوی ورکړے، اګرکه تاته نور اضرار بالکل نه وی معلوم۔

اوحال دادے چه صحیح حدیث کښے راغلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

من اذی مسلماً فقد آذانی ومن آذانی فقد اذی الله یوشك ان یاخذه رواه الطبرانی فی الاوسط، ورواه الطبریزی فی

ketabton.com - The Digital Library



المشکاة نحوه عن الترمذی.

(چاچه یو مسلمان ته ضرر ورکړو نو یقیناً چه ده ماته ضرر راکړو او چاچه ماته ضرر راکړو نو یقیناً چه ده الله ته ضرر ورکړو نزدې ده چه الله تعالی دے راونیسی)۔

نو سګریټ اونسوار کونکے الله تعالی اود هغه رسول او مومنانو او ملائکو ته ضرر ورکوی، ځکه حدیث کښې راځی کوم شے چه انسانان تنګوی هغه ملائك هم تنګوی۔

**۷ – دلیل :** قال الله تعالی :

﴿ یاایها الرسل کلوا من الطیبات واعملوا صالحاً انی بما تعملون علیم ﴾۔

(اے رسولانو ! پاك مزیدار ښیزونه خورئ اونیك عملونه کوئ زه ستاسو په علمونو خبردار یم)۔

اوحدیث شریف کښې راغلی :

وان الله امر المؤمنین بما امر به المرسلین (رواه مسلم)۔

(الله مؤمنانو ته دهغه ښیزونو حکم کړے کوم ئے چه پیغمبرانو ته کړیدے۔(چه پاك اومزیدار ښیزونه خورئ)۔

نودے آیت کریمه کښې الله رب العزت مونږ ته دپاکو ښیزونو خوړلو اونیك عمل کولو حکم فرمائیلے دے، اودا



مذکوره ښیزونه په طیبات (پاکیزه) ښیزونو کښې داخل نه دی، بلکه دا اخبث الخبائث دی !

**۸ – دلیل :** قال الله تعالی :

﴿ ولا تسرفوا ان الله لا یحب المسرفین ﴾

(او اسراف مکوئ بے شکه الله اسراف کونکی نه خوښوی)۔

اسراف دیته وئیلے شی :

ان تنفق المال فی غیر مرضاه الله سواء کان قلیلاً او کثیراً

(په هغه ځائے کښې مال خرچ کول چه هغه دالله درضا کولو سبب نه وی، برابره خبره که مال کم وی اوکه زیات)۔

او الله رب العزت به مونږ سره په ذراتو هم حساب کوی، نو سوچ کول پکاردی چه په دے مسکراتو باندے څومره خرچے کیږی، ددے په کرلو، جوړولو، ددے په انتقال، ددے په اخستلو باندے څومره مصارف راځی، آیا دابه په تبذیر کښې نه راځی ! آیا دابه په اضاعه المال (مال ضائع کولو کښې نه راځی دکوم نه چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده، لکه چه صحیح بخاریؒ وغیره نورو کتابونو کښې ذکر ده چه: انه ﷺ نهی عن اضاعة المال.

(رسول الله ﷺ دمال ضائع کولو نه منع فرمائیلے ده)۔

**۹ – دلیل :** قال الله تعالی :

ketabton.com - The Digital Library



﴿ولا تقتلوا انفسکم ان الله کان بکم رحیماً﴾

(اوځانونه مه وژنئ، بې شکه چه الله پتاسو باندې ډیر زیات رحم کونکې دې)۔

وقال الله تعالی: ﴿ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة﴾

(او خپل ځانونه دخپله لاسه دهلاکت کندې ته مه غورځوئ!)۔

او دا هر عاقل انسان ته معلومه ده چه ددې ځیزونو پ استعمال سره بدن ته ښکاره ضرر او تاوان رسیږي، ا انسان ددې داستعمال په وجه دخپل ځان قاتل جوړیږي اودا حرام کار دې۔

دا ټول آیتونه په اشارة النص سره دلیل دې په تحریم ددې ځیزونو باندې، او اشارة النص هم حجت دې، لکه داخبر په اصولو کښې ذکر ده، او عاقل ته اشاره هم کافي ده۔

❁❁❁❁❁❁❁❁



# د سنت نه دلیل

دَ رسول الله ﷺ احادیث په دې باره کښې ډیر زیات دی، چه دلته یوڅو حدیثونه دنمونې په طور پیش کولې شي:

**۱- حدیث:**

عن ابن عمر قال: قال رسول الله ﷺ: کل مسکر خمر وکل مسکر حرام

(مسلم ۲/۱۶۷) کما في المشکاة (۲/۳۱۷).

ترجمه: ابن عمرؓ نه روایت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هرنشه راوستونکې شې شراب دی، اوهرنشه راوستونکې شې حرام دې۔

۲ - عن جابرؓ قال: قال رسول الله ﷺ: کل مسکر حرام

(مسلم: ۲/۲۶۷)، نسائي (۲/۲۳۳)

(جابرؓ نه روایت دې، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دې: هرنشه راوستونکې شې حرام دې)۔

۳ - عن ابن عمرؓ قال: قال رسول الله ﷺ:

کل مسکر حرام، وکل مسکر خمر

(النسائي (۲/۳۲۵)، ابن ابي شیبة (۵/۴۷۰).

ketabton.com - The Digital Library



(ابن عمرؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ فرمائی: هر نشه راوستونکے خیز حرام دے او هرنشه راستونکے شے شراب دی)۔

٤ – عن ابن عمر قال : قال رسول الله ﷺ : کل مسکر خمر، و کل خمر حرام (مسلم : ۲/۱٦۸)

(ابن عمرؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے: هرنشه راوستونکے شے شراب دی، او هر شراب حرام دی۔

٥ – عن ابی هریره قال : قال رسول الله ﷺ :
کل مسکر حرام

(النسائی : ۲/۳۲٥) ابن ابی شیبة (٥/٤٧٠)

(ابو هریرهؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ فرمائی : هرنشه را وستونکے شے حرام دے)۔

٦ – عن عائشة قالت : قال رسول الله ﷺ :کل مسکر حرام

(مسلم (۲/۱٦٧) النسائی (۲/۳۲٥) ابن ابی شیبة (٥/٤٦٩)

(عائشهؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے: هرنشه آور شے حرام دے)۔

٧ – عن ابی موسی الاشعری قال : قال رسول الله ﷺ:
کل مسکر حرام

(مسلم (۲/۱٦٧) النسائی (۲/۳۲٥) الطحاوی (۲/۳٥۹)

(ابو موسی اشعریؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ



فرمائیلی : هرنشه پیدا کونکے شے حرام دے)۔

٨ – عن ام سلمة قالت : نهی رسول الله ﷺ عن کل مسکر ومفتر (ابو داود (۲/۱٦۳) ابن ابی شیبة (٥/٤٧٠) البیهقی (۸/۲٦۹) احمد (٦/۳۰۹)

وفی اسناده شهر بن حوشب وهو متکلم

(ام سلمةؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ د هرنشه پیدا کونکی او سستی پیدا کونکی شی نه منع فرمائیلے ده)۔

۹ – عن عائشة قالت : سمعت رسول الله ﷺ یقول : کل مسکر حرام، وما اسکر منه الفرق فملأ الکف منه حرام.

(ابو داود (۲/۱٦۳) الترمذی (۲/۹).

(ام المؤمنین عائشةؓ فرمائی : ما رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : هرنشه آور شے حرام دے، اوکوم شے چه دشپږو کیلو په اندازه استعمالولو سره نشه پیدا کوی نو د هغے نه دیو ورغوی په اندازه استعمال هم حرام دے)۔

۱۰ – عن ابن عباس قال : قال رسول الله ﷺ : کل مخمر خمر و کل مسکر حرام.

(ابو داود (۲/۱٦۲)

ابن عباسؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ فرمائی : هر خُمارونکے (عقل پټونکے) شے شراب دی، او هر نشه پیدا

ketabton.com - The Digital Library



کونکے شے حرام دے۔

۱۱ – عن ابن عباس قال : قال رسول اللّٰه ﷺ :

کل مسکر حرام – (ابو داود: ۲/۱٦٤)

**(ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : هرنشه آور شے حرام دے)۔**

۱۲ – عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال : قال رسول اللّٰه ﷺ : کل مسکر حرام.

(ابن ابی شیبة : ٥/٤٧٠)

**(رسول الله ﷺ فرمائی : هر نشه آور شے حرام دے)۔**

۱۳ – عن عمر بن الخطاب قال : الخمر ماخامر العقل.

(البخاری : ۲/۸۳٦) النسائی (۲/۳٦٤) ابن ابی شیبة (٥/٤٧١) عبد الرزاق (۹/۲۲۳) البیهقی (۸/۲۸۹).

**عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمائی :**

**شراب هر هغه شی ته وائی چه عقل پټوی (زائله کوی)**

۱٤ – عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال : ان رسول اللّٰه ﷺ قال : ما اسکر کثیره فقلیله حرام.

(ابو داود (۲/۳۲٦)

**(عمرو بن شعیب دخپل نیکه نه درسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی چه : دکوم شی ډیره حصه استعمال**



**نشه راولی دهغه کمه حصه استعمالول هم حرام دی)۔**

۱٥ – عن ابن عمر قال : قال رسول اللّٰه ﷺ : ما اسکر کثیره فقلیله حرام.

(مسند اسحق بن راهویه، معجم طبرانی، و کذا عن ابن جبیر)

**(ابن عمرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم شے چه ډیر نشه پیدا کوی، دهغے لږ هم حرام دے)۔**

❊❊❊❊❊❊❊❊

ketabton.com - The Digital Library



# د صحابه کرامو رض او تابعینو رح آثار

۱ – عن عمر بن الخطاب قال : الخمر ماخامر العقل.

(البخاری : ۸۳٦) النسائی (۳۳٤/۲)

**عمر بن الخطابؓ فرمائی :**

**(شراب هرهغه شے دے چه عقل پټوی).**

۲ – عن ابن عمر قال : کل مسکر خمر، و کل مسکر حرام.

(النسائی : ۳۲٥/۲) عبد الرزاق (۲۲۱/۹)

**(ابن عمرؓ فرمائی : هرنشه راوستونکے شے شراب دی او نشه آور شے حرام دے).**

۳ – عن عائشة الصدیقة قالت : کل مسکر حرام.

(ابن ابی شیبه (٤۷۰/٥) البیهقی (۲۹۳/۸).

**(عائشه صدیقهؓ فرمائی : هرنشائی شے حرام دے).**

٤ – عطاء قال : کل مسکر حرام (النسائی : ۳۲٥/۲).

**(عطاءؒ فرمائی : هر نشه راوستونکے شے حرام دے).**

٥ – عن ابن سیرین قال : کل مسکر حرام.

(النسائی : (۳۲٥/۲).

**ابن سیرینؒ فرمائی : نشه آور شے حرام دے.**



٦ – عن عمر بن عبد العزیز قال : مسکر حرام.

(النسائی : ۳۲٥/۲)

**عمر بن عبد العزیزؒ فرمائی : هرنشائی شے حرام دے.**

۷ –عن عطاء وطاوس ومجاهد قالوا : قلیل ما اسکر کثیره حرام – ( ابن ابی شیبة ٤۷۱/٥ ).

**عطاءؒ، طاوسؒ اومجاهدؒ درے واړه فرمائی : دځه شی چه په زیات استعمال سره نشه راځی، نو دهغے نه کمه اندازه استعمالول هم حرام دی.**

❁❁❁❁❁❁❁❁

ketabton.com - The Digital Library



# اعتباري (عقلي) دليل

په حرمت د افیونو، چرسو، اونور نشه آور ځیزونو باندے نو ټول مسلمانان (بلکه کفار هم) په دے خبر متفق دی چه ددے مسکراتو اومخدراتو اګرکه څه ناڅه فائدے هم شته لیکن ددے چه کوم تاوان دے دهغے په مقابله کښے ئے فائده بالکل کمه ده، اودداسے شي په باره کښے چه فائده ئے کمه اوضرر ئے زیات وي قرآني اصول دادی چه دهغے نه اجتناب اوکړے شي، اودغه لږے فائدے لره په مقابله ددغه عظیم ضرر کښے هیڅ اعتبار نشته۔

دشرابو او جوارئ دنفع او نقصان په باره کښے الله فرمائی:

﴿قل فیهما اثم كبیر ومنافع للناس﴾

(په دے کښے لویه ګناه (ډیر ضرر) او لږے فائدے دی خلقو دپاره)۔

ددے په وجه دانسان بدن اوصحت ته، دانسانانو معاشرے ته، دهغوی مال ته سخت تاوان رسیږی۔

اوکوم شے چه دومره تاوانی وی نودټولو عقلاؤ په نیز دهغے نه ځان ساتل واجب وی ، دے وجے نه کفار هم ددے قباحت اوبدئ په خپلو کتابونو، مجلاتو ، اخبارونو اونورو نشریاتو کښے وخت په وخت ذکر کوی۔



نوکه بالفرض ددے په تحریم باندے آیتونه او حدیثونه هم نه وے نو بیا به هم ددینه ځان ساتل ضروری وے، ځکه عام انسانان ددے په تاوان اوضررونو باندے عالم اوقائل دی۔اودین اسلام خو راغلے ددے دپاره دے چه مصالح اوښیګړے عامے کړی، اوپه کوم ځیز کښے چه فساد اوتاوان وی په معاشره کښے دهغے مخ نیوی اوکړی۔ اوهغه شے مخے ته کړی چه دهغے فائده ډیره وی ، اوهغه شے روسته کړی چه دهغه فائده کمه اوتاوان ئے ډیر وی۔اوپه دے باندے دکلام الله نه دا آیت کریمه دلیل دے :

﴿قل فیهما اثم كبیر ومنافع للناس﴾

(په دے شرابو اوجوارئ کښے ضررونه ډیر اوفائدے کمے دی)

که صرف دیوشی فائدے ته نظر اوکړے شی، نوپه شرابو کښے بیا څه نا څه فائده شته، دغه شان جوارئ کښے هم څه لږه فائده شته، لیکن کله چه ددے تاوان ډیر او فائده کمه ده، الله رب العزت دا حرام اوګرځول۔

نوددے ځیزونو (نسوار، سګریټ، چرس، افیم وغیره ) نه دشرنه ډك دی او فائده هم نه لری ځان ساتل په طریقه اولی سره پکار دی، اوخپل ځان ، اولاد او معاشره ددے قسم آفتونو نه لرے ساتل ضروری دی۔

ketabton.com - The Digital Library



# د علماء کرامو اقوال

**۱ – درمختار کښې دي:**

ويحرم اكل البنج والحشيش والافيون ، لانه مفسد للعقل ويصد عن ذكر الله وعن الصلاه الخ (شامی : ۳۲۵/۵)۔

**(دبنګو، چرسو اوافيونو خوراك حرام دے، ځکه داعقل خرابوی اوانسان دالله تعالى دذکر اومانځه نه بندوی)۔**

**۲ – مجمع البرکات کښې دي:**

ولا يجوز اكل البنج والحشيش والافيون وذلك كله حرام، لانه يفسد العقل كذا فى الجوهرة۔

(مجموعة الفتاوى (۲۸۸/۲)۔

**(دبنګو، چرسو او افيونو خوراك جائز نه دے اوداټول څيزونه حرام دي، ولے چه داعقل خرابوی دغسے په جوهره کښې هم دي)۔**

**۳ – علامه شاه عبد العزيزؒ فرمائيلي دي:**

والافيون محرم اما لانه سم يضرر ضرراً بيناً فى البدن كما هو مشروح فى الطب واما لانه مفتر مخدر وروى احمد فى مسنده وابوداود عن ام سلمة انه ﷺ نهى عن كل مسكر ومفتر، قال القسطلانى فى المواهب : قال العلماء : المفتر



كل مايورث الفتور والخدر فى الاطراف، وهذا الحديث ادل دليلٍ على تحريم الحشيش وغيرها من المخدرات فانها ان لم تكن مسكرة كانت مفترة مخدرة.

(فتاوى عزيزى ص ۱۲۰/۲، للشاه عبد العزيز الدهلوى)۔

**(افيون حرام دي ياخو په دے وجه چه دابشکاره ضرر بدن ته ورکوی لکه ددے تفصيل په علم طب کښې راغلے دے، اويا په دے وجه چه داپه بدن کښې سستيا او تخدير پيدا کوی، او امام احمد په خپل مسند کښې او امام ابوداود (په خپل سنن) کښې د ام سلمه نه روايت کړيدے چه : رسول الله ﷺ دهر نشه آور اوسستيا پيدا کونکی څيزنه منع فرمائيلے ده۔ قسطلانی په (المواهب) کښې فرمائی:**

**علماؤ وئيلی دی چه مفتر هرهغه شی ته وائی چه سستيا او خمار کيدل پيداکوی په لاسونو اوخپو کښې، اودا حديث په ټولو دليلونو کښې غټ دليل دے په تحريم دبنګو وغيره نشائی څيزونو باندے، ولے چه که داڅيزونه نشه پيدا هم نه کړی، نو سستيا اوخمار کيدل خو خامخاه پيدا کوی)۔**

**۴ – شيخ عبد القادر الرافعیؒ فرمائی:**

كم رأيت فى تبيين المحارم من باب الخمر والميسير ما

ketabton.com - The Digital Library



نصه واما الافیون فهو حرام عند محمد قلیله و کثیره، وقال فی السراج والوهاج : الافیون حرام ولا یقید حرمته بقول احد وهو الظاهر لانه مضر بالبدن وکل شئ یضرّ به فهو حرام و کذا یسیئ الخلق ویضعف العقل.

(حاشیة الشامی ۲/۴۱).

(دتبیین المحارم په باب الخمر والمیسیر کښې دا راغلی دی : هرچه افیون دی نو په نیز دامام محمد باندے لږ اوډیر دواړه ئے حرام دی، اوپه (السراج الو هاج) کښې وائی : افیون حرام دی اوددے حرمت دچا په خبره باندے نشی مقید کولے، اوهمدا خبره ښکاره ده، ولے چه دابدن ته ضرر رسوی اوهرهغه شے چه بدن ته ضرر رسوی نو هغه حرام وی، دغه شان افیون اخلاق خرابوی او عقل کمزورے کوی).

دامام محمدؒ په نیز چه څه شی زیاته حصه نشه راولی دهغه کم هم حرام دی (شامیه : ۳/۲۲۵).

علامه ابن حجرؒ فرمائی :

هر نشه راوستونکے شے حرام دے. (۱۰/۳۸).

بحر الرائق (۳/۲۴۸) کښې دی :

السکر فی شراب حرام

(نشه په هرمشروب کښې حرامه ده).



۵ - فتاوی دیوبند(۱۲/۲۱۵) کښې دی :

دشرابو او بنګو یو شان حکم دے.

حافظ ابن حجرؒ فرمائی :

شراب په لغت کښې دانګورو شیرے ته اوپه شریعت کښې هر نشه راوستونکی شی ته شراب وائی.

(فتح الباری (۱۰/۳۵، ۴۶، ۱۰ ۳۸/۱).

۶ - فتاوی کاملیه ص (۲۷۰) کښې دی :

ولا یجوز اکل الحشیشة والافیون وذلك کله حرام.

(چرس او افیون خوړل جائز نه دی بلکه دټول حرام دی).

۷ - الجوهرة النیرة (۲/۲۷۰) دَ العلامة ابو بکر بن الحداد الیمنیؒ کښې هم دغه شان عبارت دے.

۸ - شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی :

چرس حرام دی اوڅوك چه چرس اوڅښی هغه ته به هم داسے حد ورکولے شی لکه څنګه چه شرابی ته حد ورکولے شی، بلکه داد شرابو نه زیات خبیث دی ځکه دا عقل او مزاج دواړه خرابوی اوسړی کښې خنثیٰ مشکل کیدل او دیوث والے پیدا کوی، اودا په هغه څه کښې لفظاً اومعنیً داخل دی کوم نشه آور څیزونه چه الله اود هغه رسول ﷺ حرام کړیدی.

ketabton.com - The Digital Library



(السیاسة الشرعیة)

دارنګه شیخ الاسلام په خپله فتاوی (٢٢٢/٣٤) کښے فرمائی: چرس ملعون دی اودده ښنونکے هم ملعون دے اوڅوك چه دے ته حلال وائی هغه هم ملعون دے۔

٩ – علامه ابن القیمؒ هم دخپل استاد په شان داسے فرمائی:

ان الخمر یدخل فیها کل مسکر مائعاً کان او جامداً عصیرا او مطبوخاً۔

(دشرابو په حکم کښے هرنشه آور څیز داخل دے برابره خبره ده که هغه نرم وی اوکه کلك، خام وی که پوخ، او په دے کښے (لقمة الفسق والفجور) یعنے چرس هم داخل دی، اودا ټول په نص درسول الله ﷺ باندے شراب دی، ځکه هغه فرمائی چه هر نشه آور څیز شراب دی)۔

(اوګوره: فقه السنة: ٣٤٧/٢)۔

١٠ – استاد سید سابقؒ په (فقه السنة: ٣٤٧/٢) کښے د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او علامه ابن القیمؒ د حوالو ذکر کولو نه روسته لیکلی دی:

وماقاله شیخ الاسلام ابن تیمیة وتلمیذه ابن القیم وغیرهما من العلماء هو الحق یسوق الیه الدلیل وتطمئن به النفوس،



واذ قید تبین ان النصوص من الکتاب والسنة تناول الحشیش فهی تتناول ایضاً الافیون الذی یعنی العلماء انه اکثر ضرراً ویترتب علیه من المفاسد مایزید علی مفاسد الحشیش کما سبق عن ابن البیطار.

(کومه خبره چه شیخ الاسلام اودهغه شاګرد اونورو علماؤ کړیده همدا هغه حقه خبره چه دلیل همدے طرفته راهنمائی کوی، اوزړه وربانديے مطمئن کیږی، اولکه څنګه چه نصوص دقرآن اوسنت چرسو ته شاملیږی نودغه شان افیونو ته هم شاملیږی او علماؤ وئیلی دی چه افیون ډیر ضرری دی دچرسو نه، اوپه افیونو کښے دچرسونه زیات مفاسد دی، دارنګه دا نصوص هغو ته اونورو څیزونوته هم شامل دی چه اوس پیدا شویدی، او پخوا نه وو ځکه داهم لکه دانګورو دشرابو غونته داسے دی چه عقل پټوی)۔

اوبیا روسته فرمائی:

(څوك چه ددے نه یو شے هم جائز ګڼړی، نوداپه الله رب العزت باندے دروغ جوړوی، اویا په الله باندے هغه څه وائی چه دهغے علم ورته نشته، اومخکښے ذکر شو چه بعضے احناف علماؤ فرمائیلی دی: چه څوك چرسو ته جائز وائی

ketabton.com - The Digital Library



هغه زندیق او مبتدع دے۔

اوخوك چه چرسو ته جائز وائی په دے باندے زندیق اومبتدع جوړیږی نو څوك چه دے مخدراتو ته جائز وائی سره ددے نه چه ډیر زیات ضرری اوفسادی دی، نو په طریقه اولی باندے به زندیق او مبتدع جوړیږی، اوشریعت به داضرری شیز څنګه جائز کړی، سره ددے نه چه ددے ضرر دټول اُمت په اخلاقو، صحت، مال، افرادو اواجتماع باندے دے، اوشریعت مطهره ددے دپاره راغلے دے چه مصالح ډیر کړی اومفاسد ختم کړی)۔

دارنګه هغه فرمائی :

کوم شیزونه چه عقل ختموی دشرابو نه بغیر لکه چرس اونو مخدرات شو نودا حرام دی ځکه دا هم نشه آور دی۔

۱۱ – صاحب د سبل السلام په شرح د بلوغ المراد کښے فرمائیلی دی :

انه یحرم کل مسکر من ای شیء، وان لم یکن مشروباً کالحشیشة.

(هرهغه شے چه نشه راولی هغه حرام دے اګرکه هغه دڅښلو نه وی لکه چرس شو)۔

۱۲ – امام ذهبیؒ په خپل کتاب الکبائر ص (۸۶) کښے



فرمائی :

فصل : والحشیشة المصنوعة من ورق القنب حرام کالخمر یحد شاربها کما یحد شارب الخمر وهی اخبث من الخمر.

(چرس هم لکه د شرابو غونتته حرام دی، او ددے څښونکی ته به حد ورکولے شی څنګه چه د شرابو څښونکی ته حد ورکولے شی، بلکه چرس د شرابو نه هم زیات خبیث دی، ځکه عقل اومزاج دواړه خرابوی، اود سړی نه خنثی مشکل جوړوی اونورے خرابیانے په بدن کښے پیدا کوی، اوشراب او چرس دواړه انسان لره دالله تعالی د ذکر او مانځه نه منع کوی، اوکومو بعضو متاخرینو علماؤ چه ددے په حد کښے توقف کړے هغه مرجوح قول دے)۔

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ بعینه همدا خبره کړیده، لکه مخکښے مونږ دهغه قول ذکر کړو۔

۱۳ – ابن الحجر الهیثمی په خپل کتاب الزواجر ص (۲۱۲/۱) کښے فرمائلی دی :

(یوسلو اویایمه (۱۷۰) ګناه : چرس او افیون او بهنګ خوړل، اودا ټول شیزونه نشه راولی، اومرا د په نشے سره دلته عقل پټول دی او دا نه دی مراد چه مستی راولی

ketabton.com - The Digital Library



ځکه داقسم نشه هغه نشه آور ثیزونه راولی چه هغه نرم وی)۔

اوکله چه داپته اولګیده چه داټول نشه پیدا کونکی دی نو ددې استعمال داسې ګناه کبیره اوفسق دې څنګه چه د شراب څښل ګناه کبیره اوفسق دې، اوکوم وعیدونه چه دشراب خور په باره کښې راغلی دی هغه وعیدونه ددې نورو نشه آور ثیزونو په باره کښې هم دی ځکه چه ټول په علت کښې سره شریك دی۔

(اوګوره : فتاوی الدین الخالص (٣٨٨/٢) للشیخ ابی محمد امین الله حفظه الله)۔

١٤ – الشیخ عبد المجیدؒ مفتی الدیار المصریه فرمائی:

ولا یشك شاك ولا یرتاب مرتاب ان تعاطی هذه المواد حرام۔

(په دې خبره کښې به هیڅوك شك اوتردد اونکړی چه ددې (نشه آور) موادو استعمال حرام دې)۔

(اوګوره : فقه السنه)۔

١٥ – دکتور یوسف القرضاوی په خپل کتاب : الحلال والحرام ص (٧٥) کښې فرمائی :

د شرابو د جملې نه دا مواد مخدره هم دی : چرس، کوکائین، افیون اوداسې نور۔ اوبیا روسته یوه قاعده ذکر



کوی چه هرشې انسان ته ضرر ورکوی نو دهغې خوراك څښاك حرام دې، لکه رقم طراز دې :

فان المسلم لیس ملك نفسه وانما هو ملك دینه وامته وقال : لان الله تعالی قال : ولا تقتلوا انفسکم، ملخصاً۔

یعنې : مسلمان به ضرری ثیز ځکه نه استعمالوی چه دې دخپل ځان مالك او واکدار نه دې بلکه دې دخپل دین او اُمت مملوك دې، اوبل ځکه چه الله تعالی فرمائیلی دی : خپل ځانونه دبتاهئ کندې ته مه غورزوئ !

١٦ – دکتور وهبة الزحیلیؒ فرمائی :

اوهر هغه شې حرام دې چه عقل زائله کوی لکه چرس، بهنګ او افیون ځکه دې کښې ضرر پروت دې او حدیث کښې راځی : لا ضرر ولا ضرار فی الاسلام، وقال ایضاً : لا ضرار فی الاسلام. انظر الارواء۔

یعنې : په اسلام کښې نه خپل ځان ته ضرر ورکول شته اونه بل ته ضرر ورکول شته۔

(الفقه الاسلامی وادلته : ١٦٦/٦)۔

١٧ – حکیم محمد طارق چغتائی په خپل کتاب سنت نبوی اور جدید سائنس (٢٥٣/١) کښې فرمائی :

اسلام کښې ټول نشه آور ثیزونه شراب، افیون، چرس،

ketabton.com - The Digital Library



بهنګ وغیره حرام ګرځولے شویدی برابر خبره ده که دهغې مقدار ډیر وی او که کم یوشانته حکم لری۔

١٨ – الملخص الفقهی (٢/٤٦١) کښې صالح بن فوزان بن عبد الله فرمائی :

ولا یحل من الاطعمة ما فیه مضرة کالسم والخمر والحشیشة والدخان التبغ لقوله تعالی : (ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة، فالآیة الکریمة تدل علی تحریم اکل اوشرب کل مافیه مضرة مع ادلة اخری تدل علی تحریم الاطعمة والاشربة الضارة للعقول والابدان .

(هغه خوراك، څښاك چه په هغے کښے ضرر وی لکه زهر، شراب، چرس ، چیلم، سګریټ وغیره حرام دے ځکه الله تعالی فرمائی : ځان په زوره هلاکوئ مه ! دا آیت کریمه اوددے په شان نور دلائل دلیل دی په دے چه د هرهغه شی خوراك، څښاك حرام دے چه انسان ته ضرر ورکوی، عقل اوبدن خرابوی) ۔

١٩ – فتاوی هیئه کبار العلماء (٢/٧٤٨) کښے دی :

التدخین وشرب التبغ علی ای کیفیة حرام لان ذلك من الخبائث.

(سګریټ نوشی او چیلم څښل په هره طریقه چه وی



حرام دی، ځکه چه دا په خبائثو کښے شمار دی)۔

دغه شان فرمائی :

شرب السجار والشیشة حرام لما فی ذلك ضرر وقد قال النبی ﷺ : لا ضرر ولا ضرار، ولانهما من الخبائث وقد قال الله تعالی : ویحرم علیهم الخبائث.

٢٠ – علامه علی طنطاویؒ په خپله فتاوی ص (١١٧) کښے فرمائی :

وقد اجمع الناس من مسلمین وغیر مسلمین ممن له علم وله خبرة علی ان الدخان مؤکد ضرره معدوم نفعه وان من المصلحة منعه ومحاربته۔

(مسلمان دے که غیر مسلم چه علم او تجربے والا وی دهغوی په دے خبره اتفاق دے چه په سګریټ نوشئ کښے ضرر جوخت دے او فائده ئے نشته، اومصلحت په دے کښے دی چه په دے باندے پابندی اولګولے شی اوددے په خلاف جنګ اوشی)۔

٢١ – دکتور دانیال ایچ کرس، چه په امریکه کښے داعصابی بیماریانو متخصص دے په خپل کتاب : (الدخینة فی نظر الطبیب) کښے چه (الزهرة) عربی ته ترجمه کړے لیکی :

ketabton.com - The Digital Library



ان دخان التبغ يحتوى على مالا يقل عن تسعة عشر نوعاً من السموم وان كلاً منها له مفعول قتال (ص : ۳۲)۔

۲۲ - دار العلوم اکوړه خټك نه هم ددے دحرمت فتوی شائع شوے چه دهغے نوم دے : دافیونو تجارت دشریعت په رنړا کښے۔

**تنبیه** : دعلماؤ اقوال په دے وجه پیش کړے شو چه څوك دے ځیزونه ته جائز وائی هغه عام طور سره دعلماؤ اقوال پیش کوی، که نه وی نو مونږ ته دالله اودهغه درسول ﷺ دقول په موجودګۍ کښے دهیچا دقول او عمل ضرورت نشته، اونه دهغه درسول ﷺ د خبرے په مقابل کښے دچا خبره معتبره ده ۔

ہوتے ہوئے مصطفٰی کی گفتار مت دیکھ کسی کا قول وکردار

اودا اختلاف ددے خبرے دلیل نه دے چه ګنے دا مختلف فیه مسئله ده، او دواړو جانبینو باندے به ملامتیا نه وی، ولے که چرے صرف دچا اختلاف کول دلیل دجواز او نه جواز شی نو بیا دا کومه یوه قطعی مسئله ده چه په هغے کښے اختلاف نشته، اختلاف خو خلقو دالله په باره کښے هم کړیدے، درسول الله ﷺ په باره کښے هم، دقرآن کریم په باره کښے هم، دقیامت په باره کښے هم، نو بیا په کارده



چه دے کښے څوك اختلاف کوی بقولِ شما هغه هم قابلِ ملامتیا نه وی! کما لا يخفى على من له عقل وهدايه وليس له غوايه !!

ددے آیتونو او حدیثونو اوآثارو او اقوالو دعلماؤ نه معلومه شوه چه شراب هر نشه راوستونکی شی ته وئیلے شی، اودا دجمهورو فقهاء او محدثینو اتفاقی خبره ده۔

امام شافعیؒ، امام مالكؒ، امام احمد بن حنبلؒ او جمهور محدثین شراب عام ګڼړی، دغه شان اهل لغتو علماؤ لکه صاحب قاموس وغیره هم عموم ته ترجیح ورکوی۔

(اوګوره فتح القدير (۲۳/۹) البحر الرائق (۲۱۷/۸) تقريرات الرافعى (۲۱۳/۲)۔

په احناف علماؤ کښے هم دامام محمدؒ په نیز شراب هر نشه راوستونکی شی ته وئیلے شی، فقهائے احناف هم د امام محمدؒ په قول فتوی ورکوی، لکه علامه شامی دلسو کتابونو حواله لیکی او فرمائی :

والفتوى فى زماننا بقول محمد رحمه الله.

(زمونږ په زمانه کښے فتوی په قول دامام محمدؒ ده)۔

(شامی : ۳۲۳/۵)۔

مولا نا عبد الحیؒ صاحبؒ په خپله فتاوی کښے د خزانة

ketabton.com - The Digital Library



المفتین، مجمع البرکات، مجمع البحرین، تبیین الحقائق، فتاوی بزازیه، خلاصة الفتاوی، شرح الوقایه، نهایه، عنایه، الواقعات او نورو کتابونو حوالو ذکر کولو نه پس فرمائی:

چه داټول علماء وائی چه فتوی دامام محمد په قول ده۔

(مجموعة الفتاوی: ۲/۲۳۲).

او دا حدیث: الخمر ما خامر العقل، او: کل مسکر خمر، اوددے په شان نور حدیثونه ئے مؤید دی۔

ددار العلوم حقانیه نه یوه فتوی شائع شوے هغے کښے هم دی چه په مسکراتو کښے فتوی دامام محمد په قول ده (ص: ۳۱)۔

په دے وجه ټول قسمونه دنشه آورو څیزونو لکه چرس، افیون وغیره دشریعت په رنړا کښے دشرابو په شان حرام دی، اوکوم احکام چه دشرابو دی همدغه احکام دافیونو او چرسو هم دی۔

❀❀❀❀❀❀❀❀



# د افیونو تجارت

## دافیونو اونورو نشه راوستونکو څیزونو استعمال او کارو بار او تجارت ټول حرام دی

ټولو مسلمانانو ته معلومه ده چه نشه نشه راوستونکی څیزونه په معاشره کښے د بے شماره جرمونو او بد اخلاقو سبب دے، نو ځکه دشریعت په نظر کښے ددے خرڅول او ددے کارو بار ټول حرام دی، دے دپاره چه د معاشرے نه دا ګند بلاء ختمے شی اوددے قسم ګناهونو قلع او قمع اوشی، او ددے په تحریم باندے قرآن، سنت، داهلِ علمو او اهلِ طب اقوال او عقل ټول واضح دلائل دی۔

**(۱) - اول دلیل : د قرآن کریم نه**

قال الله تبارك وتعالى:

﴿ولا تعاونوا على الاثم والعدوان﴾۔ [مائده: ۷]۔

(دګناه او زیاتی په کار کښے دیوبل سره تعاون مه کوئ)

نوهرکله چه چرس، افیون اونور نشه آور څیزونه حرام

ketabton.com - The Digital Library



شو، نوددے کرکیله، خرڅول، اخستل او تجارت کول ټول حرام دی، ځکه چه دے ټولو صورتونو کښے په گناه باندے مدد او تعاون کول راځی، چه په مذکوره نصِ قطعی سره حرام دے۔

(۲) – **دویم دلیل** :

قال الله تعالی :

﴿ ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل ...... ﴾ الآيه.

**(خپل مینځ کښے خپل مالونه په باطله طریقه مه خورئ)**

**په باطله طریقه د مال خوړلو دوه صورته دی :**

**۱ – دظلم، غلا، خیانت او غصب په طریقه دچانه مال واخستلے شی، او هغه استعمال کړے شی۔**

**۲ – دچانه مال په داسے طریقه واخستلے شی چه هغه شرعاً منع وی، لکه چانه مال په جوارئ اخستل، دسود په طریقه اخستل، دشرابو خرڅولو په ذریعه یا ددے نه علاوه دنورو نشه آورو څیزونو په ذریعه باندے مال حاصلول شو، نو په دے دویم صورت باندے مال اخستل هم حرام دی اگرکه دهغه بل کس رضاوی۔**

(۳) – **دلیل** :

رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے :



ان الله اذا حرم علی قوم اکل شئ حرم علیهم ثمنه.

(مسند احمد (۱/۲٤۷) ابو داود (۲/۱۳۷)

**(بیشکه الله تعالی چه کله په یو قوم باندے دیو شی خوراك حرام کړی، نو په هغوی باندے دهغے (حرام شی) قیمت (روپئ، پیسے) هم حراموی)۔**

**په یو بل روایت کښے داسے دی :**

ان الذی حرم شربها، حرم بیعها.

(مسلم، موطا امام مالك، نسائی ۲/۲۳۰، مسند احمد ۱/۲٤٤)۔

**(هغه ذات چه ددے څښل ئے حرام کړیدی، ددے اخستل خرڅول ئے هم حرام کړیدی)۔**

**٤ – دلیل :**

وعن انس رضی الله عنه قال : لعن رسول الله ﷺ فی الخمر عشرة : عاصرها ومعتصرها وشاربها وحاملها والمحمولة الیه وساقیها وبائعها واکل ثمنها والمشتری لها.

**(رسول الله ﷺ د شرابو په حقله لسو کسانو باندے لعنت وئیلے دے : دهغے په جوړونکی، دهغے په نچوړونکی، دهغے په څښونکی، دهغے په وړونکي، چاله وړل کیږی، دهغے په څښوونکی، دهغے په خرڅونکی، دهغے په روپو خوړونکی، دهغے په خرڅونکیاو چا دپاره**

ketabton.com - The Digital Library



چه داخرڅولے شی په هغه باندے لعنت فرمائیلے دے)۔

**٥ - دلیل :**

عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال :

ان من حبس العنب ایام القطافِ حتی یبیعه لمن یتخذه خمراً فقد تقحم فی النار.

(ابن عباسؓ روایت کوی، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : کوم سړے چه دانګورو د شوکولو په وخت هغه په دے غرض ذخیره کړی چه داپه شراب جوړونکی باندے ورخرڅ کړی، نوبیشکه دا سړے په اور کښے داخل شو)۔

نوددے حدیث نه په طور د اشارة النص سره دا معلومه شوه چه دچرسو او افیونو کرکیله ددے غرض دپاره حرام ده، سره ددے نه چه انګور په خپل ذات کښے یو حلال نعمت دے، نو کوکنار کرل به څنګه جائز شی، چه ددے اصل ذات مردار او حرام دے !!

٦ - وعن جابر قال قال رسول الله ﷺ :

ان الله حرم بیع الخمر والمیتة والخنزیر والاصنام.

(بخاری : ١/٢٩٨)۔

(جابرؓ روایت کوی، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : بیشکه الله تعالی شراب، مرداره، خنزیر، اوبتان اخستل



اوخرڅول ټول حرام کړیدی)۔

امام نوویؒ ددے حدیث په شرح کښے لیکلی دی :

قال القاضی : تضمن هذه الاحادیث ان مالا یحل الله الانتفاع لا جوز بیعه وانه لا یحل اکل ثمنه.

(شرح النووی : ٢/٢٣).

(قاضی فرمائی : په دے درے احادیثو کښے (کوم چه ده ذکر کړیدی) دا مضمون راغلے دے چه دکوم شی نه فائده اخستل الله تعالی حلال کړی نه وی دهغے خرڅول او دهغے پیسے خوړل جائز نه دی)۔

تفسیر قرطبی (٦/١٦٧) کښے دی :

وفیه دلیل علی تحریم بیع العذرات وسائر النجاسات، وما لایحل اکله.

(په دے کښے دلیل دے په دے خبره چه دګندګئ اود نور نجاساتو، دغه شان دهغه څه چه حلال نه وی خرڅول اخستل جائز نه دی)۔

علامه شامی لیکلی دي :

د نشه آور څیزونو تجارت حرام دے، او په دے باره کښے فتوی دامام محمدؒ په قول ده (شامیه : ٥/٣٢٣)۔

دامام محمدؒ په نیز دټولو نشه پیدا کونکو څیزونو

ketabton.com - The Digital Library



تجارت حرام اومنع دے اود تهولو فقهاؤ فتوی دامام محمد په قول ده۔ (مجموعة الفتاوی : ۲۳۲/۲)۔

علامه عبد الحیٔ لکهنویؒ لیکلی دی چه دخشخاشو ددانو نه افیون ویستل او خرخول حرام دی۔

(مجموعة الفتاوی : ۲۵٦/۲).

بل ځائے لیکی : دافیونو تجارت نه دے جائز۔

(مجموعة الفتاوی (۲۳۲/۲)۔

د دار العلوم دیوبند مفتی محمود حسین د یو سوال په جواب کښے لیکلی دی : دافیونو تجارت مکروه تحریمی دے۔ (اوګوره : فتاوی محمودیه (۳۵۳/۱۳)۔

استاذ سید سابق صاحب فرمائی :

ان زراعة الحشیش والافیون لاستخراج المادة المخدرة والا تجار فیها حرام بلاشك.

(فقه السنة : ۳٤۹/۲)۔

(بیشکه چه دچرسو او افیونو کرکیله ددے لپاره چه مواد مخدره ترینه جوړ کړی حرام دی، اوددے تجارت کول هم بلا شکه حرام دے)۔

اوهمدا خبره مفتی الدیار المصریه الشیخ عبد المجید سلیم هم کړے ده۔



(اوګوره : فقه السنة (۳٤۹/۲)۔

علامه عبد الرحمن الجزیریؒ لیکلی :

دعلماء کرامو په دے مسئله کښے اتفاق دے چه چرس او خشخاش کرل حرام دی ځکه ددینه نشه راوستونکی ثیزونه تیارولے شی۔

(اوګوره : الفقه علی المذاهب الاربعة (٤٠/٥).

دغه شان دچرسو او افیونو نه علاوه نور نشه آورو ثیزونو تجارت هم حرام دے، اودا اګرکه په ظاهره ددے ثیزونو تجارت دے لیکن داپه اصل کښے دانسانانو دارواحو، اود اخلاقو خرابولو تجارت دے۔

(الفقه علی المذاهب الاربعة : ٤٠/٥)۔

فتاوی حقانیه (٤۳۵/٦) کښے ئے دافیونو کرل او اخستل خرڅول ناجائز ګڼړلی۔ (دافیون کرلو حکم) په عنوان سره لیکی :

**سوال :** افیون کرل دشریعت په نقطه نظر سره څه حکم لری ؟

**جواب :** افیون یو داسے شے دے چه دهغے نه په دے زمانه کښے خطرناك او مهلك ترین نشه آور ثیز یعنے هیروین جوړولے شی چه دهغے نه پوره دنیا تباهئ او بربادئ کښے

ketabton.com - The Digital Library



گیره ده، اوددے مضرِ محض کیدو باندے اقوامِ عالم متفق دی۔

ددے وجے نه ددے په کرلو، ددے دخرخولو او اخستلو په جواز باندے څه خاص دلائل نه ملاویږی بلکه عام اقوال ددے دحرمت تائید کونکی دی، بیاهم که چرے دافیون استعمال ددوائی پورے محدود وی یا دافیونو تخم (خشخاش) حاصلول مقصود وی نو دضرورت مطابق په محدود انداز کښے ددے دکرلو گنجائش پیدا کیږی، مگر په معاشره کښے ددے نیت ډیر کم پیدا کیږیٓ۔

زه وائم: روسته ذکر کیږی چه آیا دیته ضرورت شته که نه!

مفتی عزیز الرحمن صاحب دیو سوال په جواب کښے لیکی:

په گاډی اوموټر کښے افیون اوړل او په هغے مزدوری اخستل جائز نه دی۔(عزیز الفتاوی : ۱/۶۶۷)۔

د دار العلوم حقانیهٔ نه هم یوه فتوی د افیونو په موضوع باندے شائع شوے اوپه هغے کښے ئے دا ثابته کړے چه دافیونو کرل، ددے اخستل خرخول ټول حرام دی۔

(اوگوره دافیونو تجارت دشریعت په رنړا کښے ص (۷)۔



فتاوی حقانیه (۶/۴۵) کښے دی:

افیون، چرس، بهنگ، هروئین دنشے راوستلو په وجه حرام دی لهذا دحرام شی قیمت اوپه گناه باندے دمدد کولو په وجه ددے د اخستلو خرخولو نه ځان ساتل پکاردی، ځکه ددے شیزونو نه دانسان دین اودنیا بربادیږی۔

دغه شان په (۶/۴۳۶) کښے دیو سوال په جواب کښے دی بهنگ چونکه دنشه راوستونکو شیزونو دجملے نه دے، نوددے وجے نه ددے خرخول، ددے اخستل، دغه شان ددے کرل شرعاً ناجائز دی۔

فتاوی کاملیه ص (۲۰۷) کښے الشیخ محمد کامل بن مصطفی الطرابلسیؒ فرمائی:

اتفق مشائخنا ومشائخ الشافعی علی تحریم الحشیش وافتوا باحراقه وامر بتادیب بائعه والتشدید علی آکله، فهو زندیق مبتدع.

(زمونږ اود مشائخ شافعیو په دے خبره اتفاق دے چه چرس حرام دی، اوپه دے چه دوی فتوی ورکړے په سزولو. دهغے اوپه دے چه څوك دے لره خرخوی نو هغه له دے ادب ورکړے شی، اودوی ددے په خوړونکی باندے دسختیئ اظهار کړیدے، چه دازندیق او بدعتی دے)۔

ketabton.com - The Digital Library



فتاوی ثنائیه (۲/۴۰۳) کښې علامه ابو الوفاء ثناء الله امرتسری رحمه الله (اهل حدیث عالم) دیو سوال په جواب کښې لیکلی دی:

تنباکو چونکہ مکروہ ہے، اس کی بیع کا بھی یہی حکم ہے۔

(تنباکو چونکه مکروه دے، نو ددے دخرخولو هم داشان حکم دے)۔

روستو (۲/۴۰۴) کښې لیکی:

حقے کو مکروہ بھی کہا گیا ہے اور حرام بھی بلکہ مباح بھی مگر ترجیح حرمت کو معلوم ہوتی ہے۔

(حقے (چیلم) ته مکروه، حرام، بلکه مباح هم وئیلے شویدی مگر راجحه داده چه حرامه ده)۔

فتاوی هیئه کبار العلماء (۲/۷۳۱) کښې دی:

فی حکم القات والدخان: ولا یجوز بیعها ولا شرائها ولا التجارة فیها وثمنها حرام وسحت.

یعنې: ددے اخستل اوخرڅول جائز نه دی اونه پکښې تجارت کول جائز دی، اوددے پیسے حرام اوقبیحے دی۔

❁❁❁❁❁❁❁❁



## افیون په دوائی کښې استعمالول

## افیون او نور نشه آور مواد د دوائی په طور استعمالول هم نه دی جائز

په دے خبره دلائل دادی:

۱- عن ابی الدرداء قال: قال رسول الله ﷺ: ان الله انزل الداء وانزل له الدواء، وجعل لکل داء دواء، ولا تداووا بحرام.

(رواه ابو داود (۲/۳۸۵) وکذا فی المشکاة)۔

(ابو الدرداءؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے: الله رب العزت بیماری هم پیدا کړیده اودهغے دپاره ئے دوائی هم پیدا کړیده، اوهغه دهرے بیمارئ دپاره دوائی مقرر کړیده، نو تاسو په حرامو باندے دوائی مه کوئ)۔

(وسنده حسن، انظر الصحیحة: ۴/۱۷۵)۔

۲- وعن ابی هریره رضی الله عنه قال: نهی رسول الله ﷺ عن الدواء الخبیث.

(رواه الترمذی وابن ماجه)۔

(ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے

ketabton.com - The Digital Library



ده دخبیثے (حرامے) دوائی کولو نه)۔

٣ – وعن ام سلمة رضی الله عنها عن النبی ﷺ قال :

ان الله لم یجعل الشفاء فیما حرم علیکم.

(اخرجه البیهقی وصححه ابن حبان ، کذا فی بلوغ المرام، وانظر المصنف لابن ابی شیبة (٢٣/٧)۔

(ام سلمے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : الله تعالی تاسو دپاره په حرامو څیزونو کښے شفاء نه ده اچولے)۔

٤ – وعن ابن مسعود رضی الله عنه قال :

ان الله لم یجعل شفائکم فیما حرم علیکم.

(ابن مسعودؓ فرمائی : الله تعالی چه پتاسو کوم شے حرام کړیدے په هغے کښے ئے تاسو دپاره شفاء نه ده اچولے)۔

ددے مذکوره حدیثونو نه صفا معلومه شوه چه د حرامو څیزونو استعمال نه د دوائی دپاره جائز دے اونه د بل څه دپاره !!

❁❁❁❁❁❁❁❁



## حرامو څیزونه د دوائی په طور استعمالولو باره کښے د علماؤ اقوال

١– علامه سیوطیؒ ددے حدیثونو لاندے لیکی :

وهذا حرام۔

یعنی : په حرامو اونشه آورو څیزونو باندے دوائی کول حرام دی۔ (ابوداود (٢٨٥/٢)۔

٢ – علامه ابن نجیمؒ فرمائی :

وان المحرم شرعاً لا یجوز الانتفاع به للتداوی کالخمر.

(البحر الرائق (١٧٢/٦)۔

یعنی : کوم څیز چه شرعاً حرام وی هغه ددوائی په طور استعمالول هم حرام دی لکه شراب۔

٣ – علامه شامیؒ لیکی :

ان المذهب انه لایجوز التداوی بالمحرم.

(شامی : ٣٢٠/٥).

(زمونږ مذهب دادے چه په حرامو باندے دوائی کول جائز نه دی)۔

٤ – علامه عبد الحیٔ لکهنویؒ لیکی :

ketabton.com - The Digital Library



په افیونو دوائی کول جائز نه دی۔

(مجموعة الفتاوی (١٠/٢٠٥).

٥ – صاحب هدایه فرمائی :

والاستشفاء بالمحرم حرام. وهکذا فی البحر

یعنے : په حرام شیزونه بطور دوائی استعمالول حرام دی۔

٦ – په المغنی (١٠/٣٢٦) کښے دی :

لایباح شرب الخمر للتداوی.

یعنے : ددوائی په طور شراب استعمالول حرام دی۔

اوبیا روسته حدیث ذکر کوی :

عن مخارق ان النبی ﷺ دخل علی ام سلمة وقد نبذت نبیذا فی جره فخرج والنبیذ یهدر فقال : ما هذا فقالت : فلانه اشتکت بطنها فنقعت لها فدفعه برجله فکسره وقال : ان الله لم یجعل فیما حرم علیکم شفاء.

ددے حاصل معنے داده چه : په حرامو کښے الله تعالی شفا نه ده اچولے۔

٧ – علامه مبارکفوریؒ په تحفه الاحوذی (٣/١٦٠) کښے فرمائی : په حرامو باندے دوائی کول جائز نه دی، نه عقلاً اونه شرعاً۔

اوبیا فرمائی :



څوك چه دا وائی چه که دچا یقین وو چه په دے حرامه دوائی ښه کیږی نو بیائے خوړل جائز دی، نو ددوی خبره غلطه ده، ځکه داپه یقین سره وئیل چه دے سره به ښه کیږی دحلالے دوائی په باره کښے هم نشی وئیل کیدے !

٨ – علامه ابن القیمؒ فرمائی :

په حرامو تداوی کول عقلاً او شرعاً منع دی، شرعاً خوځکه منع دی چه حدیث کښے راځی ، (ولا تداووا بحرام) او عقلاً ځکه منع دی چه ددے شی ذات خبیث دے ځکه الله رب العزت چه مونږ باندے دا شے حرام کړیدے دا دوجے دخبث (گندگئ) ددے شی نه، ددے وجے نه ئے نه دے حرام کړے چه الله مونږ ته یوه سزا راکوی لکه بنی اسرائیلو باندے چه به یو شے دعقوبت دوجے نه حرامیدلو

﴿ فبظلم من الذین هادوا حرمنا علیهم طیبات احلت لهم ﴾

نو په دے باندے دوائی کول نه دی پکار، اودا اگرکه دبیمارئ اثر ختموی لیکن دے سره سره غټ مرضونه پیدا کوی دوجے دخبث او پلیتئ نه۔

(اوگوره : زاد المعاد للعلامة ابن القیمؒ : (٤/١٤١)۔

زه وایم : ددے مثال دادے چه بعضے حکیمان داپه دوائی کښے دقوت باه دپاره استعمالوی نو دیته یو څه وقت فائده

ketabton.com - The Digital Library



ورکوی لیکن روسته ډیر ضررونه او نقصانونه راولی لکه سرعت انزال، نسیان اوداسې نور شو- دغه شان بعضې حکیمان ئې داسهال دپاره هم استعمالوی-

٩ - حکیم محمد طارق چغتائی په سنت نبوی او جدید سائنس کښې لیکی : په حرامو ځیزونو کښې شفا نشته-

اوبیا روسته لیکی :

نن ولې په دوایانو کښې شفا نشته، ځکه دادوایانې په یورپ اومغربی ممالکو کښې جوړیږی اودلته راځی، په هغو دوایانو کښې دننه داسې حرام ځیزونه موجود وی چه الله تعالی په نیز په هغې کښې شفا نشته، بلکه وعید او عذاب دې-

په یوه بله موقعه باندې لیکی :

دحرامو حیواناتو په غوښه ، شرابو، وینه ، نشه آور ځیزونو او زهریله دوایانو کښې شفا نشته-

بیا روسته واقعات راوړی چه مخکښې ډاکټرانو بعضې حرام ځیزونه په دوایانو کښې استعمالول لیکن دجدید سائنس په ذریعه معلومه شوه چه دا حرام ځیزونه دفائدې په ځائې تاوان ډیر لری، نو ځکه اوس ډاکټرانو بعضې حرام ځیزونه چه مخکښې به ئې په دوایانو کښې استعمالول،



پریښودل-

(اوګوره : سنت نبوی اوجدید سائنس (٣٩٦/١)-

١٠ - فتاوی الاسلامیه کښې چه دهغې حاصل دادې :

په حرامو باندې دوائی کول جائز نه دی اوحرام دی اودلیل په دې باندې حدیث دابن مسعود رضی الله عنه دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی دې :

ان الله لم یجعل شفائکم فیما حرم علیکم.

(الله رب العزت ستاسې شفا په حرامو کښې نه ده ایښې)-

رواه البخاری معلقاً وقد وصله الطبرانی باسناد رجاله رجال الصحیح، وابو یعلی واحمد وابن حبان ورجال ابی یعلی ثقات عن ام سلمة، فتاوی اسلامیه (٢/ ٢١٠) لابن باز وعبد الرزاق العفیفی وغیرهما).

دغه شان فتاوی اسلامیه کښې دی (٢/١٦٥) :

ولا یجوز التداوی بالمحرمات لثبوت الادلة الشرعیة الدالة علی التحریم.

(کوم ځیزونه چه حرام دی هغه ددوائی دپاره استعمالول جائز نه دی، ځکه چه ددې په تحریم باندې دلائل شرعیه راغلی دی)-

دغه شان په (٤/٤٤٩) کښې هم ذکر کړی-

١١ - فتاوی هیئه کبار العلماء (٢/٧٣٢) کښې دی :

ketabton.com - The Digital Library



يحرم التداوى بشرب الخمر واى شئ مما حرمه الله من الخبائث عند جمهور العلماء.

(دجمهورو علماؤ په نیز په شرابو یا ددې نه سیوا په نور هغه څیزونو سره دوائی کول کوم چه الله حرام کړی دی حرام دی)۔

بیا روسته لیکی :

ومن اباح التداوى من علماء الكوفة فقد قاسه على اباحة اكل الميتة والدم للمضطر وهو مع معارضته للنص ضعيف لانه قياس مع الفارق الخ ۔

(د کوفې بعضې علماؤ چه په حرامو سره دوائی کولو ته مباح وئیلی دی نو دائې قیاس کړیدی په خوراك دمردارې اووینې باندې دپاره دمجبور شخص خو داقیاس سره ددینه چه دنص سره ټکراؤ دې ورسره ضعیف هم دې، ولې چه داقیاس مع الفارق دې)۔

۱۲ – فتاوى نذيريه (۴۱۴/۳) کښې مولانا سید نذیر حسین دهلوی رحمه الله فرمائی :

په شرابو باندې دوائی کول جائز نه دی ځکه شراب حرام دی اوحرامو کښې شفا نشته۔

دغه شان (۴۱۵/۳) کښې فرمائی :

په حرام اوناپاکو څیزونو لکه شراب وغیره سره دوائی



کول حرام اوناجائز دی، برابره خبره ده که هغه ناپاك شې په خپل حالت پاتې وی یاپه دوائی کښې ګډ کړې شوې وی اوخپل حالت ئې بدل شوې وی؛ ځکه رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم خلقو دشرابو نه دوائی جوړوله او رسول الله ﷺ منع کړل۔

۱۳– امام شوکانیؒ ددې حدیث : (انه ليس بدواء ولكنه داء) لاندې لیکلی :

فيه تصريح بان الخمر ليست بدواء فيحرم التداوى بها كما يحرم شربها و كذلك سائر الامور النجسة او المحرمة واليه ذهب الجمهور.

(ددې حدیث لاندې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : دا دوائی نه ده بلکه بیماری ده، لیکلی چه : په دې کښې داخبره په ډاګه بیان شوه چه شراب دوائی نه شی کیدې ، نو داد دوائی پطور استعمالول به داسې حرام وی څنګه چه ددې څښل حرام دی، اودغه شان حکم د باقی هرهغه څیزونو دې چه نجس یا حرام وی (چه دا بطور دوائی استعمالول حرام دی) او همدا مذهب دجمهورو علماؤ دې)۔

دغه شان ددې حدیث لاندې چه رسول الله ﷺ فرمائی :

ketabton.com - The Digital Library



**(لا تداووا بالحرام) یعنے په حرامو سره دوائیمکوئ، لیکی :**

ای لا یجوز التداوی بماحرمه الله من النجاسات وغیرها مما حرمه الله ولو لم یکن نجساً.

(نیل الاوطار : ۹/۹۳).

**(هغه ځیزونه چه الله تعالی حرام کړیدی برابره خبره ده که هغه نجس وی اوکه نه وی هغه ددوائی په طور استعمالول جائز نه دی)۔**

**۱۴– علامه عبد الحیٔ الحنفیؒ فرمائی :**

دانہ خشخاش کے کھیتی کرنا درست ہے اوراس سے افیون نکالنا اور بیچنا حرام اورافیون دوامیں ملانا اوربچوں کو دینا حرام ہے۔

(مجموعة الفتاوی : ۲/۲٦٥)۔

**(د خشخاشو د دانے کرل درست دی خو ددے نه افیون راویستل اور خرخول حرام دی، دغه شان افیون په دوائی کښے اچول او ماشومانو له ورکول حرام دی)۔**

**۱۵– شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ داخبره ډیره په تفصیل سره لیکلے په خپله فتاوی (۵٦۰/۲۱) دغه شان په الفتاوی** المصریة لشیخ الاسلام ابن تیمیة ص (۵۰۰) **کښے فرمائی :**

**چه په حرامو ځیزونو سره تداوی کول حرام دی، او دلیل ئے دانیولے چه الله رب العزت دا حرام کړی دی اوس چه**



**ځوك داوائی چه ددے استعمال ددوائی دپاره جائز دے هغه به دلیل راوړی۔**

**بیا ئے سوال رانقل کړے چه دمضطر (مجبوره) کس دپاره خو دحرامو ځیزونو استعمال هم جائز کیږی نو په حرامو سره تداوی کول په اضطرار اومجبورتیا کښے داخل دی، لکه یو سړے اوږے وے او مجبوره شی نو هغه له مرداره، نذر دغیر الله، شراب وغیره هرشے چه وی خوړل جائز دی۔**

**نو شیخ الاسلامؒ داجواب ورکړے چه صحیح ده چه داځیزونه دضرورت او اضطرار په وخت کښے استعمالول جائز دی لیکن دوائی کول خو څه ضروری نه دی لکه څنګه چه خوراك څښاك کول ضروری دی، اونه په دے دوائی کښے داضطرار اومجبورتیا څه صورت جوړیږی چه ددے ډیر وجوه دی :**

**اول داچه :** **ډیر مریضان دوائی نه بغیر جوړیږی، په خلاف دمردارے اونورو حرامو ځیزونو خوړلو نه چه داپه اضطراری حالت کښے خوړلے شی ځکه الله رب العزت داسے بدن نه دے پیدا کړے چه هغه خوراك ته ضرورت اونه لری، اوبے خوراکه دهغه ژوند تیر شی۔**

**دویم داچه :** په وخت دضرورت کښے خوراك کول واجب

ketabton.com - The Digital Library



دی چه، دے وجے نه دعلماؤ نه نقل دی که څوك دلوګے نه مړکیدو اومرداره وغیره ورته ملاویدله اوهغه ئے اونه خوړله اومړشو نودا کس به اور ته داخلیږی، اوبل طرفته دوائی کول دسره واجب نه دی

اوکه څوك اووائی چه دوائی کول دمرض دپاره واجب دی نودا دسنتو درسول الله ﷺ اود سلفو دعمل نه خلاف فتوی ده، ځکه شریعت کښے ډیر داسے مثالونه شته چه دهغے نه ښکاره معلومیږی چه دوائی کول ضروری نه دی۔

مثلًا رسول الله ﷺ ته یوه ښځه راغله چه دمیرګو بیماری ئے لرله، رسول الله ﷺ هغے ته اختیار ورکړو چه صبر کوے اوتادپاره به جنت وی، اوکه زه درله دعا اوغواړم دروغوالی! نو هغے هغه مصیبت اختیار کړو۔

نوکه دمرض علاج کول اوهغه لرے کول واجب وے نو بیا هغے ته داختیار ورکولو څه معنے!

دغه شان اهل قباء تبه غوره کړے وه۔

دارنګ ډیرو انبیاؤ علیهم السلام مصیبت اومرض غوره کړے وو اوتداوی ئے نه ده کړے، چه یو مثال ئے ایوب علیه السلام دے۔



دغه شان سلفو صالحینو نه هم دانقل دي: مثلًا ابو بکر رضی الله عنه، عمر بن عبد العزیزؒ، ربیع بن خیثمؒ، حسن بصریؒ، اوبو درداءؓ اونور ډیر سلفونه نقل دی چه دوی کله بیماران شوی نو علاج ئے ندے کړے بلکه دعلاج کولو نه ئے انکار کړے دے۔

نوکه چرے علاج کول او دوائی کول ضروری ښیز وے نو بیا خو ددوی انکار کول دعلاج اودوائی نه غلط کار وو۔

دغه شان شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ لیکلی: چه ماته نه دی معلوم چه سلفو علماؤ کښے چا تداوی واجبه ګڼړلے وی۔

دریمه وجه: ددے محرماتو استعمالول ددوائی دپاره قیاس کول دی په حالت داضطرار باندے چه دلوګے حالت شو یادیو سړی په مرئ کښے یو څه نختی وی اود شرابو، مردارے نه سیوا بل څه نه ملاویږی نو داټول حرام ښیزونه استعمالول هغه دپاره جائز کیږی،

نو دا قیاس کول، قیاس مع الفارق دے، ځکه چه په حالت دلوګه کښے مرداره خوړلو یاشراب ښبلو سره یقینی ثابته ده چه دے سره انسان مرګ نه خلاصیږی، په خلاف دحرامو دوایانو استعمالول چه په دے کښے یقین لاڅه کوے چه غالب ګمان هم نشی کیدے چه انسان دے

ketabton.com - The Digital Library



وریاندے روغ شی۔

څلورمه وجه : دیو مرض ډیرے دوایانے وی نوکه په یو شی کښے درته شفا ملاؤ نشی نو پکاردی چه بل اختیار کړی، ځکه حدیث کښے دی :

انزل لکل داء دواء الا الموت

یعنے : دمرګ نه سیوا دهرے بیمارئ دپاره الله تعالی دوائی رالیږلے ده، چه انسان ته په هغے شفا حاصلیږی۔

او دا نشی کیدے چه په حرامه دوائی کښے دے شفا وی، ځکه رسول الله ﷺ چه صادق او مصدوق دے هغه فرمائی :

ان الله لم یجعل شفاء امتی فیما حرم علیها.

یعنے الله تعالی زما دامُت دپاره په هغه څیزونو کښے شفا نه ده ایښے کوم څیزونه ئے چه په دوی حرام کړیدی۔

زه وایم : ددے دواړو حدیثونو یوځائے کولو نه معلومه شوه :

۱ – چه الله رب العزت دهرے بیمارئ دپاره دوائی رالیږلے ده چه انسان ته په هغے سره شفا ملاویږی۔

۲ – په حرامو کښے شفا نشته، لکه دویم حدیث کښے ذکر شو نو بیا ولے حلال شے نه استعمالوی !



پنځمه وجه د تحریم دعلاج په محرماتو باندے :

داده : چه په دے څیزونو سره اګرکه مونږ ته فائده رسیږی لیکن بیا به هم مونږ دانه استعمالوو اوداپه دوائی کښے استعمالول حرام وی، ځکه مونږ شرعاً منع یو چه دالله رسول ﷺ مونږ ته وئیلی وی چه : (لا تداووا بحرام) په حرامو څیزونو سره دوائی مکوئ۔

(ابو داود : ۲/۳۸۵).

اوبل حدیث کښے ارشاد دے :

نهی عن الدواء الخبیث (بخاری)۔

یعنے : رسول الله ﷺ دحرامے دوائی نه منع فرمائیلے ده۔

نو هرسړے دے سترګے اوغړوی اوځان سره دے فکر اوکړی چه آیا زما فتوی خو درسول الله ﷺ دحکم او حدیث په مقابل کښے نه ده ! چه :

(۱) رسول الله ﷺ فرمائی چه خبیث اوحرام څیزونو باندے دوائی مکوئ !

اودے وائی چه دافیونو کرل اودهغے خرڅول او اخستل جائز دی، ځکه ددے نه دوایانے جوړیږی !

(۲) رسول الله ﷺ فرمائی چه دے ګنده اوحرامو څیزونو کښے شفا نشته !

ketabton.com - The Digital Library



اودے وائی چه : افیون دبعضو مرضونو دپاره دوائی شفا ده !!

ددے سماوی وحی سره دادومره ټکراؤ ولے ؟

لږ شان په خپل ایمان باندے ویره اوخوف هم پکاردے۔

بلکه شیخ الاسلام ابن تیمیهٔ په مجموعة الفتاوی (۲۷۵/۲٤) کښے لیکلی : چه څوك ددے حرامو ځیزونو نه شفا حاصلوی اودا ددوایانو په طور استعمالوی نو دلیل دے په دے باندے چه دده په زړه کښے دننه مرض دے ځکه که دے درسول الله ﷺ اُمتی وے نو دده شفا به په دے حرامو کښے نه وے ، ځکه هغه فرمائی : زما دامت شفا په حرامو کښے نشته !!

نو اوس چه یوسړے وائی چه داافیم په دوایانو کښے استعمالیږی نوځکه افیم کرل، خرخول، اخستل هرڅه جائز شو۔

نو بیا درسول الله ﷺ ددے احادیثو سره به څه کوو چه هغه بار بار فرمائیلی دی : (لا تداووا بحرام)

(ان الله لم یجعل شفائکم فیما حرم علیکم)

(نهی عن الدواء الخبیث)

یعنے : په حرامو ددوائی مکوئ !



خبیثه دوائی مه استعمالوئ !

الله تعالی په حرامو کښے شفا نه ده اچولے !

اوس بحیثیتِ مسلمان ددے نه ځان ساتل ضروری شو

اودا خبره چه بعضے خلق کوی چه حالت داضطرار کښے ددے استعمال ددوائی دپاره جائز دے، ځکه :

الضرورات تبیح المحظورات

(د ضرورت په وجه حرام ځیزونه حلالیږی)

**جواب** : هاؤ! حرام ځیزونه الله رب العزت داضطرار په حالت کښے جائز کړی ، خو اوس اضطرار وائی څه ته ؟

اضطرار دیته وائی چه انسان سخت مجبوره شی اوبل شے ورته نه ملاویږی اوکه استعمال ئے نه کړی نو دځان خطره وی په کښے لکه دسختے لوګے اوتندے په حالت کښے دشرابو، مردارے اوخنزیز روا کیدل۔

حال داچه داصورت خو دلته نه جوړیږی ځکه دافیونو نه علاوه نور ځیزونه هم شته بل شے دے استعمال کړی، ضرورت په نورو حلالو طریقو سره هم دفع کیدے شی۔

اوکه څوك وائی چه بل شے نشته ددے مرض دعلاج دپاره سیوا ددے نشه آور ځیزونو نه نو مونږ ځکه داحرام شے استعمالوو، نو دابه دروغ وائی اودا کس به په نص درسول

ketabton.com - The Digital Library



الله ﷺ دروغ جن وی دوو وجو نه :

۱ - داچه : دے وائی دے کښے شفاء ده ، اورسول الله ﷺ فرمائی : په حرامو کښے شفا نشته، اوکه بالفرض ظاهر فوری طور سره څه روغ هم شی نو بیا به هم په دے دوائی کښے لس چنده تاوان ورسره وی (کما ذکره ابن القیمؒ)۔

۲ - دویم داچه : دے وائی : بل شے ددے مرض دعلاج دپاره نشته، نوځکه دا نشه آور خیز استعمالوو : نو داهم دروغ دی ځکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : دهر مرض علاج الله پیدا کړیدے۔

اوکه دے وائی چه دوائی خو شته خو ماته نه ده معلومه جواب دادے چه ستا عدم علم ددے دلیل نشی کیدے چه ددے استعمال دے جائز کړی ، خاصکر مخکښے دشیخ الاسلام په عبارت کښے ذکر شو چه په دوائی کولو کښے داضطرار صورت هم نه جوړیږی۔

**شپږمه وجه** : د تحریم د استعمال ددے په دوایانو کښے:

که بالفرض داخیزونه دیو مرض علاج هم وی نو بیابه ئے هم نه استعمالوی ځکه که استعمال ئے نه کړی انسان بیمار پاتے کیږی اوکه استعمال ئے کړی نو انسان مرتکب دحرامو جوړیږی نو مرض به غوره کوی، حرام به نکوی۔



اودا داسے مثال لری لکه نُشره (حل السحر بالسحر) یعنے چه یو سړی باندے جادو شوے وی او دے جادوګر ته ځی اودخپل ځان نه جادو په جادو سره لرے کوی نو داکار منع دے په شریعت کښے، ځکه که یو طرفته داکس روغیږی نوبل طرفته دے مرتکب دحرامو جوړیږی۔

شیخ ابو محمد امین الله حفظه الله فرمائی :

ددے مثال دادے لکه چه یو سړے وائی زما صحت دے ښه شی اګرکه زما ایمان دے خراب او تباه شی، اوداسے کار کول حرام دی چه دصحت دوجے نه یو انسان خپل ایمان بربادوی، داخو ډیرے خونده انسان دے۔

دغه شان یو بل حدیث کښے راځی چه یو طبیب صحابی رسول الله ﷺ ته دچیندخے ذکر اوکړو چه دا دوائی دپاره استعمالیږی، نو ددے وژل څنګه دی! رسول الله ﷺ دے منع کړو، چه که ته دوائی ورباندے کوے بیاهم ددے وژل جائز نه دی ځکه داتسبیح وائی۔

(اوګوره: نسائی او مسند احمد وسنده صحیح)۔

نو هرکله چه دچیندخے وژل ددوائی دپاره جائز نه دے حال داچه دچیندخے حرمت دمسکراتو نه ډیر کم دے، نو مسکرات استعمالول به څنګه جائز شی !

ketabton.com - The Digital Library



د تفصیل دپاره دشیخ الاسلام ابن تیمیہؒ فتاوی (۲۱/۵۶۰) دغه.شان (۲۷۵/۲٤) ته رجوع اوکړئ ! چه ډیر ښه بیان ئے کړیدے، اودائے په قرآن، حدیث اوعقل سره ثابته کړیده چه په نشه آورو اونورو حرامو ځیزونو سره دوائی کول حرام دی۔

**بل جواب** دادے : چه کوم علماء ددے نشه آور موادو استعمال په دوائی کښے جائز ګنړی هغوی ددے دپاره اضطرار شرط وائی چه یو سړے دومره ضرورت لری چه که دغه دوائی استعمال نکړی نو مړ کیږی، لیکن نن صبا بغیر داضطرار دحالت نه هم دوایانو کښے استعمالیږی لکه دامعلومه خبره ده مثلًا قوت باه دپاره استعمالیږی، اسهال دپاره استعمالیږی، لیکن که مونږ داوس زمانے حال ته اوګورو نو په سلو (۱۰۰) کښے (۲۰) فیصده دوایانو کښے استعمالیږی او (۸۰) فیصده ئے دنشے دپاره خلق استعمالوی ، نو آیا دغه (۸۰) فیصده خلق چه ګناه کښے اخته دی په دے کښے اکثر مړه کیږی، تول نشایان خو خپله هم غرق او پرق دی بلکه ځان سره دخپلو ښځو، بچو ژوند هم تباه کوی۔

آیا په دے کښے به هغه څوك نه ګناهګاریږی چه دغه



افیون اونور نشه آور ځیزونه کری اومسلمان وربانده مړکیږی، بے روزګاره کیږی، اوخپل ژوند اودخپلو ښځو بچو ژوند ئے تباه کړو، آیا په دے تباه کارئ کښے به ورسره هغه څوك شریك نه وی څوك چه افیون کری اوددے کاروبار کوی !

**جواب** به داوی چه ضرور به دوئ هم دهغوی سره په دے تباهئ کښے باقاعده شریك وی۔

آیا په دے کښے خوبه تعاون علی الاثم والعدوان نه وی !

آیا په شریعت کښے مصالح مرسله نشته ؟

آیا شریعت کښے دانشته چه یو شے فی نفسه جائز وی خوچه کله دفساد یا نقصاناتو اوګناهونو سبب جوړ شی هغه هم حرام او ناجائز شی ، چه اصولیان هغے ته قبیح لغیره وائی ؟

آیا شریعت مطهره کښے داقاعده نشته چه :

دفع المفسدة مقدم علی جلب المنفعة

هرسړے دے اوګوری چه افیم فائده ډیره کوی که ضرر ؟

آیا شریعت مطهره کښے قانون دسد الذرائع نشته ؟

که داهرڅه وی اویقیناً چه شته دے، نو بیا ولے په دے باندے عمل نه کیږی!

ketabton.com - The Digital Library



دغه شان بیا ولے لکه دبنی اسرائیلو غونته حیلے او بهانے ددے دتحلیل دپاره جوړولے شی ؟

مخکښے هم ذکر شو اوبیا هم وایم چه :

که بالفرض ددے نشه آورو څیزونو په تحریم باندے قرآن اوسنت نه ښکاره دلا ئل هم نه وے نوبیا به هم دشریعت داصولو او قواعدو، اود شریعت دروح او فطری عقل په وجه داحرام اوناجائز وے، ځکه ټول انسانان دابد او کرکجن ګڼری۔

هغه په دے وجه چه دشریعت داصولو نه دامعلومیږی چه دیو شی تاوان ډیر اوفائده ئے کمه ده هغه شے استعمالول په شریعت کښے منع دی۔اودیته وئیلے شی:

دفع المفسدة مقدم علی جلب المصلحة

دغه شا ن دشریعت یوه بله قاعده هم ده هغے ته وائی:

(سد الذرائع)

چه یوشے فی نفسه بذاتِ خود مباح وی لیکن کله چه هغه دحرامو، ګناهونو او فسادونو ذریعه جوړه شی، هغه هم په شریعت مطهره کښے منع دے۔

په دے خبره کښے تفصیل نه کوو، علماء اصول فقه په دے موضوع ډیر بحثونه کړیدی چه هغے ته رجوع کولے



شئ۔

(اوګوره : الوجیز فی اصول الفقه لعبد الکریم زیدان ص (۲۳٦) تفصیلاً، ارشاد الفحول للعلامة الشوکانیؒ، اصول الفقه للدکتور وهبة الزحیلی، الاحکام للامام ابن حزمؒ وغیره)۔

ټول محدثین اوفقهاء په دے باندے متفق دی: چه دکومو شیانو استعمال په عامو اوقاتو کښے حرام وی، نو دغه شان ددوائی په غرض هم ددے استعمال نه دے جائز برابره خبره ده چه خالص په دے حرامو شیانو دوائی اوشی یا داحرام شیان دبل څه سره ملاؤ شی اوتداوی پرے اوشی، څه قسم چه وی په دے شیانو علاج کول منع اوحرام دی۔

لیکن بعضے علماء په داسے حالت کښے چه چاته سخت مهلك مرض ورپیښ شی اوده نور هرقسمه علاجونه کړے وی اوبیا یو طبیب ورته اووائی چه ستا علاج په شرابو کیږی یا بل حرام شے ورته اوښائی نو په دے صورت کښے په شرابو اونورو حرامو شیانو سره علاج کول مباح ګرځولی دی۔

لکه یو مضطر (ډیره مجبوره) کس دخنزیر غوښے خوړلو ته محتاجه شو یا دشرابو په ذریعه هغه شے تیر کړی کوم شے ئے په حلق کښے نښتے وی اود مړکیدو خطره وی، په هغے

ketabton.com - The Digital Library



خپله مرئ (حلق) خلاصول مباح دی، لیکن ددے نه دانه ثابتیږی چه ددے حرام څیزونو نه فائده اخستل جائز دی۔
اونن صبا په عامو دوایانو کښے هم نشه آور څیزونه استعمالیږی سره ددینه چه نه اضطرار شته اونه ضرورت بلکه صرف ددے وجے نه ئے استعمالوی چه دیو مرض علاج ورباندے کوی اود حلال حرام غم ورسره نه وی، اوکوم علماء چه دافیونو اونورو نشه آورو څیزونو نه علاج کول جائز ګڼړی هغوی یو څو شرطونه لړوی لکه ددے بیان دمفتی محمد شفیع صاحبؒ په دے لاندینی عبارت کښے موجود دے هغه فرمائی:
(۱) حالت اضطراری به وی چه دمرګ خطره به وی، دمعمولی تکلیف اومرض داحکم نه دے۔
(۲) دحرامو نه بغیر به بل څه ده ته نه ملاویږی، یا به ملاویږی خو موثر به نه وی۔
(۳) چه دحرامو څیزونو داستعمال په وجه به دمرګ نه بچاؤ یقینی وی لکه یوسړے ډیر اوږے وی اومردارے نه یودوه نوړئ اوخوری عادتاً انسان دمرګ نه ورباندے خلاصیږی۔
اوکه چرے یودوائی حرامه وی دهغے استعمال مفید



معلومیږی لیکن دهغے نه شفا یقینی نه وی نو دهغے استعمال هم نه دے جائز۔
دغه شان لذت حاصلول به مقصود نه وی اود ضرورت نه زیات به ئے نه استعمالوی۔(معارف القرآن: ۴۲۵/۱)۔
۱۶: خلیل سهارنپوری صاحب په بذل المجهود (٦/٤) کښے لیکی:
والصحیح من مذهبنا جواز التداوی بجمیع النجاسات سوی المسکر، جمعاً بین الحدیث.
(زمونږ په مذهب کښے صحیح خبره داده چه په هرقسمه نجس شیانو سره دوائی کول جائز دی، سیوا دنشه آورو څیزونو نه، دپاره ددے چه ټول احادیث سره راجمع شی)۔
نو مجوزین حضرات دے اووائی چه دامسکر دی که نه، چه مسکر شو نوبیا خو حنفی مذهب کښے هم ورباندے تداوی نه ده جائز!
۱۷ – مرقات کښے ملاعلی قاری وائی:
ولا یجوز التداوی بالحرام الا ما خصته السنة من ابوال الابل
(په حرامو باندے دوائی کول جائز نه دی مګر هغه متیازے داوښانو چه سنت خاص کړیدی)۔

ketabton.com - The Digital Library



# د چرسو، افیونو
# اونور نشه آور شیزونو ضررونه

ددے شیزونو ضررونه خوعلماؤ او اطباؤ ډیر زیات بیان کړی لیکن زه دلته د (مشت نمونه خروار) په طور بعضے ضررونه ذکر کوم، مشهور متل دے:

العاقل تکفیه الاشارة

(هوښیار له اشاره کافی ده)۔

ملاعلی قاریؒ په مرقات (۳/۲) کښے په (باب السواك) کښے فرمائیلی:

افیونو کښے (۷۰) اویا ضررونه دی، په دے کښے د ټولونه کم اومعمولی ضرر دادے چه انسان نه د مرګ په وخت د شهادت کلمه هیریږی (والعیاذ بالله)۔

دغه شان نورو علماؤ ددے (۱۲۰) قسمه دینی اودنیوی ضررونه لیکلی دی، چه هغه دادی:

انها تورث الفکرة الردیئة وتجف الرطوبات الغریزیة وتعرض البدن لحدوث الامراض ، وتورث النسیان ، وتصدع الرأس ، وتقطع النسل، وتجف المنی، وتورث الموت الفجاء ة ، واختلال



العقل ، وفساده ، والدق، والسل ، والاستسقاء ، وفساد الفکر، ونسیان الذکر، وافشاء السر، وانشاء الشر، وذهاب الحیاء ، وکثرة المراء ، ونقض المودة ، وکشف العورة وعدم الغیرة ، واتلاف الکیس، ومجالسة ابلیس، وترك الصلاة ، والوقوع فی المحرمات ، والبرص ، والجذام، وتوالی الاسقام، والرعشة علی الدوام، وثقب الکبد ، واحتراق الدم، والبخر ، ونتن الفم، وفساد الاسنان ، وسقوط شعر الاجفان ، وصغر الاسنان ، وعشاء العین، والفشل ، وکثرة النوم، والکسل ، وتجعل الاسد کالعجل ، وتعید العزیزذلیلاً والصحیح علیلاً والشجاع جباناً ، والکریم مهاناً ، ان اکل لایشبع ، وان اعطی لا یقنع ، وان کلم لایسمع ، تجعل الفصیح ابکم ، والذکی ابلم، وتذهب الفطنة ، وتحدث البطنة ، وتورث العنة ، واللعنة والبعد عن الجنة ، ومن قبائحها انها تنسی الشهادتین عند الموت بل قیل : ان هذا ادنی قبائحها !!

ترجمه :

۱- ناکاره فکرونه پیدا کوی۔

۲- طبعی رطوبات اوچوی۔

۳- بدن بیمارو ته پیش کوی۔

۴- نسیان پیدا کوی۔

۵- سردردے پیدا کوی۔

ketabton.com - The Digital Library



٦ - نسل ختموی.

٧ - منی اوچوی.

٨ - ناڅاپه مرګ دپاره سبب جوړیږی.

٩ - عقل ګډوډ کوی اوفساد پکښے پیدا کوی.

١٠ - تیبی اونرے مرض پیدا کوی.

١١ - استسقاء مرض پیدا کوی.

١٢ - فکرخرابوی.

١٣ - یاد شیزونو هیریدو دپاره سبب جوړیږی.

١٤ - ددے په وجه دانسان نه رازونه خوریږی.

١٥ - ددے په وجه دانسان نه شر خوریږی.

١٥ - دے سره انسان بے حیاء کیږی.

١٦ - ډیرے جګړے کوی. جګړالو جوړیږی.

١٧ - ددے په وجه انسان کښے بے محبتی پیدا کیږی.

١٨ - دعورت ښکاره کولو سبب جوړیږی.

١٩ - په انسان کښے غیرت ختمیږی.

٢٠ - ددے په وجه دانسان بټوه (جیب) تباه کیږی.

٢١ - دابلیس ملګرے جوړیږی.

٢٢ - بے نمازه کیږی.

٢٣ - برګے مرض او



٢٤ - جذام مرض پیدا کوی.

٢٥ - پرله پسے بیماریانے پیدا کوی.

٢٦ - رعشه (رپ رپے) مرض پیدا کوی، چه اندامونه لړزیږی

٢٧ - جګر سورے کوی.

٢٨ - وینه اوچوی.

٢٩ - خوله بدبویه کوی، ګنده بغل پیدا کوی.

٣٠ - غاښونه خرابه وی.

٣١ - دسترګو دبانړو ویښتان غورزوی.

٣٢ - غاښونه واړه کوی.

٣٣ - سترګے شب ګورے کوی.

٣٤ - بزدلی پیدا کوی.

٣٥ - سستی پیدا کوی.

٣٦ - زمری نه سخے جوړوی.

٣٧ - عزتمند نه ذلیله جوړوی.

٣٨ - روغ نه بیمار جوړوی.

٣٩ - بهادر نه بُزدله جوړوی.

٤٠ - شریف نه کمینه جوړوی.

٤١ - که څه خوری نو نه مړیږی.

ketabton.com - The Digital Library



٤٢ – که څه ورکړے شی په هغې قناعت نه کوی.

٤٣ – که خبرے ورسره کیږی نو نه اوری.

٤٤ – فصیح (جراره) نه چارا جوړوی.

٤٥ – هوښیار نه کم عقل جوړوی.

٤٦ – زیرکتیا ختموی.

٤٧ – خیته غټوی.

٤٨ – دنامردئ او

٤٩ – لعنت او

٥٠ – جنت نه دلرے والی سبب جوړیږی.

٥١ – اوددے ځینے قباحتونه دادی چه انسان نه کلمه دشهات هیروی دمرگ په وخت کښے (په الله پناه)

٥٢ – د سرطان (کینسر) ډیر قسمونه پیدا کوی.

٥٣ – دسینے ډیر امراض پیدا کوی.

٥٤ – بلغم پیدا کوی.

٥٥ – تبوخے پیدا کوی.

٥٦ – ساه بندی مرض پیدا کوی.

**تنبیه** : که څوك ددے ضررونو معلوموی نودا کتابونه دے اوگوری :

موارد الظمآن (٣/٥).



دغه شان حکیم محمد طارق محمود چغتائی په خپل کتاب سنت نبوی ﷺ اور جدید سائنس (٢٤٤/١) کښے د (نشه، صحت، اسلام او جدید سائنس ) په عنوان سره ډیر ښه تحقیق لیکلے اوددے نشه آور شیزونو ضررونه ئے ډیر زیات بیان کړیدی.

(اضرار المسکرات والمخدرات، لعبد الله بن جار الله بن ابراهیم الجار الله).

دغه شان (الدخین مادة، وحکمها، حررها ابو بکر الجزائری الواعظ بالمسجد النبوی) رسائل الجزائری (٥٣٣/٢) طبیبك معك. دے کتاب کښے هم دنشه آور شیزونو اضرار په تفصیل سره بیان شویدی، للدکتور صبری االقبانی.

دغه شان : (الدخینة فی نظر طبیب) ددکتور دانیال، ایچ، کرس کتاب دے چه په دے موضوع باندے ئے ښه بحث کړے دے.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

# د سګريټ، چيلم اونسوارو حکم

سګريټ، چيلم اونسوار داټول حرام دی، ځکه دے هیڅ
خیر ښیګړه نشته اوضررونه نقصانات ئے ډیر زيات دی۔
زه به دلته اول ددے ضررونه ذکر کړم او بیا به ددے شرعی
حکم سره ددلائلو نه ذکر کړم۔

دسګريټ، چيلم، نسوارو ضررونه:

ددے ځیزونه ضرورنه دوه قسمه دی:

١ – بدنی: چه صحت له نقصان اوضرر ورکوی۔

٢ – مالی۔

نو دسګريټ، چيلم نسوارو نقصانات خو دومره ښکاره
اوڅرګند دی چه هر عقل مند او باشعور شخص پرے
پو هیږی، مشهور متل دے:

عیان را چه بیان!!

لیکن بیا هم دفائدے پوره کولو دپاره ددے نقصانات داهل
علمو او اطباؤ نه واوریٔ:

دجرمنی یوه مجله (الشبیکل) لیکی:

د امریکے لس (١٠) سپیشلستان ماری لینډ د امریکے



(سپویزاد) په اداره تحقیقات کښے جمع شول، او د تنباکو
څښلو چه کوم اثرات د خلقو په صحت باندے پریوځی په
دے موضوع ئے بحث ومباحثه اوکړه، اوټولو په دے
لاندینو نقصاناتو باندے اتفاق اوکړو:

١- کوم خلق چه سګريټ څښی په هغوی کښے دهغه
خلقو په نسبت چه سګريټ نه څښی دمرګ اندازه (٦٨)
فیصده زیاته ده۔

٢- کوم خلق چه سګريټ څښی هغوی دلاندینو
ذکرشوی مرضونو دوجے نه زيات مړه کیږی په نسبت
دهغه کسانو چه سګريټ نه څښی:

(١) دپیپړو سرطان (کینسر) ١٠/٨ چنده زیات دے۔

(٢) په پوزه، مریٔ اود ساه په نالیٔ کښے التهاب اوسوزش
اودے ځایونو پړسیدل (٦/١) چنده زیات۔

(٣) دمریٔ کینسر (٥/٤) چنده زیات۔

(٤) دخلے دننه سرطان (٤/١) چنده زیات۔

(٥) دخوراك په نالیٔ (لاره) کښے دکینسر (٣/٤) چنده
زیات۔

(٦) دمعدے مرضونه (٢/٤) چنده زیات۔

(٧) دویم ځل والا امراض (٢/٦) چنده زیات۔

ketabton.com - The Digital Library



(٨) په زړه باندې چربی وغیره امراض (١/٧) چند
زیات.
٣ – ددې مطلب دادې چه په غوږ اوزړه باندې دچربی
خوریدلو مرض په تنباکو نوشانو کښې په نسبت دغیر
تنباکو نوشانو اویا (٧٠) فیصده زیات دې.
اودلاړو دنالئ په پرده اوپه نظامِ تنفس کښې سوزش او
التهاب پنځه (٥) فیصده دې.
دپیپړو سرطان کوم سرطان چه دنورو تمامو اقسامو نه
زیات خوریدونکے او عام دې، نو ددې ښکار کیدونکي
احتمال دغیر تنباکو نوشانو په نسبت په تنباکو نوشانو
کښې هزار (١٠٠٠) فیصد زیات دې.
(ماخوذ از مجلة : الحضارة، دولسم کال عدد ٣ و ٤ ص (١٥٨)
بحواله : تربیة الاولاد فی الاسلام للشیخ عبد الله ناصح العلوان)
د سِل (نری مرض) د تدارك او ختمولو په سلسله کښې
قائمه شوې دشام دملك یوې کمیټئ یوه بیان جاری
کړیدې په هغے کښې ئے لیکلی دی چه :
دکلونو د تحقیق اود علمی بحث ومباحثے نه دا لاندینۍ
خبرې ثابتې شویدی چه کله یو کس سګریټ څښی
نو هغه لوګے اویاسی اودهمدے لوګی نه هغه نوی (٩٠)



فیصده په خپل ځان کښې محفوظ کوی، لکه څنګه چه د
تنباکو سوزیدلو سره چه کومه سیاهی اوتور والے جوړیږی
هغه هم دساه په نالو کښې جمع کیږی اودا سیاهی اوتور
والے دکیماوی قسم دمرکباتو دمجموعے یو قسم دے چه
ددے په ذریعه دسرطان دبعضے اقسامو پیدا کیدلو ذریعه
ده، اوبل طرفته نور باقی مانده عناصر او اجزاء خارخت
پیدا کوی، اود پیپړو دنری مرض اود نورو خطرناکو،
مهلکو جراثیمو دحملے دپاره بهترین ځائے جوړوی.
هغه خلق چه سګریټ څښی دهغوی نرے مرض او
سرطان (کینسر) دهغه خلقو په نسبت زیات وی څوك چه
سګریټ نه
څښی، اوورسره دسګریټ څښلو دعادت په وجه په پیپړو
کښے نور لاعلاج بیماریانے پیدا کیږی مثلًا دمرئ په نالئ
التهاب اوسوزش اود پیپړو پړسیدل او ساه اختستل
ګرانیدل، اوتپ دق، سګریټ نوشی دزړه مرضونو طرفته
لاره هواروی، ځکه چه نکوئین دزړه ډقار زیاتوی اود وینے
نالیو ته نقصان رسوی، چنانچه بے شماره سګریټ
څښونکی دخپلے زندګئ دختمولو دپاره ډیر لوئے قیمت
اداکوی، دبے وجے نه دسګریټ نوشئ نه ځان ساتل پکاردی

اودخپل صحت دحفاظت دپاره ددے نه بچ کیدل انتهائی ضروری دی۔

(بحواله : تربیة الاولاد فی الاسلام)۔

یو شاعر څه ښه وئیلی :

تنباکونوش راسینه سیاه است
اگر باور نداری نشے گواه است

دغه شان ډاکټر دانیال، ایچ، کرس چه په (واشنټن) ښاریه کښے دعصبی امراضو متخصص دے په خپل کتاب : (التدخینة فی نظر الطبیب) چه الزهره عربی ته ترجمه کړے (ص : ۳۲) کښے دیو عنوان : فی التبغ تسعه وعشرون نوعاً من السم لاندے لیکی :

ویتضح من ذلك ان دخان التبغ یحتوی علی مالا یقل عن تسعة عشر نوعاً من السموم، وان کلاً منها له مفعول قتال.

یعنے : سګریټ ، چیلم کښے تقریباً نولس (۱۹) قسمه زهریلی مواد دی، چه په دے کښے هریو په قتل کښے خپل پوره کردار اداکوی۔

دغه شان علی طنطاوی په خپله فتاوی ص (۱۱۷) کښے لیکی :

وقد اجمع الناس من مسلمین وغیر مسلمین ممن له علم



وخبرة علی ان الدخان مؤکد الضرر، معدوم نفعه وان من المصلحة منعه ومحاربته.

(په دے خبره ټولو مسلمانان اوغیر مسلم ټول متفق دی چالره چه علم اوپوهه وی چه : سګریټ، چیلم سخت ضرر ثیزونه دی چه فائده ئے نشته، اومصلحت په دے کښے دے چه ددے نه منع اوکړے شی، اوددے سره جګړه اوکړے شی)۔

دسعودی عرب (عرب نیوز) په ورځ پاڼړه کښے د دینیاتو صفحه د ( Islam inprospective )

(اسلام اِن پراس پیکټیو

په عنوان سره دعادل اصلاحی دادارت لاندے شائع کیږی اودا صفحه (رابطه) میاشتنے مجله (بینکاك، کراچی) په اردو کښے د (دین کاراسته) په عنوان سره خوریږی، چه ددے ورځپاڼړے ټول سوالات کلیم چغتائی په یو کتابی شکل کښے راجمع کړیدی اوددے نوم دے (اسلامی طرز فکر)۔

ددے کتاب په (۱۹۱/۲) صفحه کښے دی :

دتنباکو په لوګی کښے (۵۰۰) داسے مرکبات پیدا کیږی چه ډیر زیات نقصان ورکونکی دی۔

چنانچه داد تعجب خبره نه ده چه یواځے تمباکونه دپیپړو

ketabton.com - The Digital Library



سرطان جوړشي اودا حقیقت دے چه دپیپړو (۹۰) فیصد سرطان دتمباکو دوجے نه پیدا کیږی۔

دغه شان تمباکو نور ډیر اقسام دسرطان پیدا کوی، مثلاً: دشونډو سرطان، دورو سرطان، دحلق سرطان، اوپه زنانو کښے درحم سرطان۔

تمباکو دساه په نالو کښے دپړسوب اود ساه په اخستلو کښے درکاوټ باعث هم جوړیږی، دغه شان دا دزړه د مرضونو سبب هم جوړیږی۔

داورځ پاڼره په خپله صفحه :

(Islam inprospective) کښے داخبره زیاتوی:

ددے تمباکو اثرات اواضرار صرف دتمباکو څښونکو پورے محدود نه دی بلکه دتمباکوڅښونکی لوګے دنورو خلقو دپاره هم خطره وی، اوهغه هم ددے مرضونو سبب جوړیږی۔

دغه شان دا ورځ پاڼره لیکی :

که ته دسګریټو، چیلمو داضرارو فهرست چه داکوم قسم مرضونه پیدا کوی، اوګورے نو تاته به داخبره بالکل یقینی معلومه شی چه :

[ سګریټ وژل کوی ]



په کتاب مجموعة الرسائل عن التدخين ، تاليف مجموعة من العلماء تحت اشراف ادارة البحوث العلمية والافتاء والدعوة والارشاد) کښے لیکی :

دسګریټو اوچیلم اونورو مخدراتو څښونکو په لسو کښے درے اویاځلور دتمباکو څښلو دوجے نه مره کیږی۔

دغه شان یو سګریټ دانسان پنځ نیم منټه عمر کموی او یوځوان چه دورځے شل سګریټه څښی نو دده دځوانۍ په عمر کښے به دده دعمر نه (۵) کاله کمه وی۔

(اوګوره ص : ۷۰)۔

دغه شان هغوی لیکلی دی چه په دنیا کښے په لکونو خلق دسګریټو او چیلمو دوجے نه مره کیږی۔

دارننګ یوه مجله عدد نومبر، دسمبر سنه (۱۹۷۸) چه د: Past Graduate Doctor نوم یادیږی ددے داضرارو تفصیل شته دے۔

ددے نقصانات نور ډیر علماؤ او ډاکټرانو ذکر کړیدی لیکن زه په دے باندے اکتفاء کوم، العاقل تکفیه الاشاره۔

۲ - **دویم قسم** : **مالی تلوان** :

سګریټو، چیلم او نسوارو والا دورځے ډیرے روپۍ خرچ کوی په دغه فضولتیا باندے۔

ketabton.com - The Digital Library



صرف په پاکستان کښې په ملیونو داسې خلق شته دې چه هغوی نسوار، سګریټ او چیلم منشیات څښی، دغه شان افغانان هم په لکهونو انسانان ددې لعنت په نشه اخته دی، باقی دنیا لا خو پریږده!

آیا هره ورځ چه په لکهونو، کروړونو روپۍ په دې ګندونو ورکول کیږی داسراسر اسراف اوبذر نه دې!

که دغه روپۍ په مسکینانو یا داسلام په خدمت کښې لیګیدلے نو په کال کښې هر ملك کښې به په زرګونو انسانان دسوال اوګداګرۍ نه خلاصیدل!

دغه شان ( hexagon ) مجله په کال (۱۹۷۸) جلد (٦) عدد (۳) کښې لیکی چه:

دتمباکو شرکتونه دورځې دهر انسان دپاره څومره چه په زمکه اوسیږی دوه سګریټه تیاروی۔

(بحواله: مجموعه رسائل عن التدخین ص (٦٩)۔

❋❋❋❋❋❋❋❋



# د سګریټ، چیلم اونسوارو شرعی حکم

هرکله چه دسګریټو ، چیلمو اونسوارو صحی اودنیوی نقصانات تاسو ته معلوم شو، چه دڅومره زیاتو امراضو سبب جوړیږی اوپه دې باندې زمونږ څومره مالونه خرچ کیږی، دشریعت حکم په دې باره کښې څه دې

قال الله تعالی :

﴿ ویحل لهم الطیبات ویحرم علیهم الخبائث ﴾ الاعراف ۱۵۷۔

(حلالوی دوئ له پاك څیزونه اوحراموی په دوی باندې خبیث څیزونه)۔

سګریټ، چیلم اونسوار داټول خبیث څیزونه دی اودا ټول دخبیث دتعریف لاندې راځی۔

خصوصاً نسوار خو دچرګو دګندګۍ سره صورتاً او وصفاً دواړه مشابهت لری۔

نسواریان دې دانه وائی چه زمونږ دخلے نه خو بوئے نه ځی، صاحبانو! ګونګټ دګندګۍ پهٔ بو هیږی؟

دګندګۍ بوئے هغه څوك محسوسوی چه هغه دګندګۍ سره کار نه لری۔

ketabton.com - The Digital Library



زۀ په قسم سره وايم چه د نسواری دخلے نه دومره سُوړ اوګنده بوئے ځی چه دَ انسان زړۀ مرئ ته رارسوی، الله تعالی دے دَ نسواريانو د ښځو چاره اوکړی !

هغه به شاذ او نادر وی چه نسوار هم کوی اود خولے نه ئے بوئے هم نه ځی، دابه لاڅوك وی !

دغه شان الله رب العزت فرمائی :

﴿ ولا تلقوا بايديكم الى التهلكة ﴾

(ځان د خپله لاسه د هلاکت کندے ته مه غورزوئ)

بل ځائے ارشاد دے :

﴿ ولا تقتلوا انفسكم ﴾

ترجمه : خپل ځانونه مه وژنئ !

اودخپل ځان وژل داهم دی چه داسے ضرری څیزونه استعمالوی چه هغه دمرګ سبب شی۔

او د عصرِ حاضر ډاکټرانو دا ثابته کړیده چه په تمباکو کښے (۵۰۰) مرکبات داسے شته چه هغه سخت ضرری دی۔

دغه شان په سګریټو کښے چه کوم زهریله مواد دی مثلاً نیکوټین : ددے په باره کښے یو مسلمان ډاکټر چه په لندن کښے دطبيبانو دمُلکی کلیے رکن دے وائی :



نیکوټین دومره خطرناك زهرجن شے دے چه دیو تکړه ځوان دمرګ دپاره دهغے یو ملی ګرام (m g) کافی دے چه دهغه رګ کښے داخل کړے شی، اوسره ددے نه یو سګریټ هم ددینه خالی نه دے په هرسګریټ کښے دیو نه تر درے ملی ګرامو پورے نیکوټین وی۔

(اوګوره : رسائل الجزائری (۵۳۴/۲) الواعظ بالمسجد النبوی، مجموعة رسائل عن التدخين، موارد الظمآن (۱۸۶/۵) ۔

دغه شان مخکښے چه ددے دضررونه ذکر شو، نو اوس ددے استعمال خپل ځان وژل نه دی !

ددے استعمال ځان دهلاکت کندے ته غورزول نه دی !

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

لاضرر ولا ضرار

نه خپل ځان ته ضرر رسول جائز نه دی، نه بل چا ته۔

مونږ داخپل نفسونه په الله رب العزت باندے خرخ کړی دی۔

﴿ ان الله اشترى من المؤمنين انفسهم واموالهم بان لهم الجنة ... ﴾

دنسوارو، سګریټو اوچیلم د تحریم بله وجه داده :

چه په دے کښے اسراف دے او اسراف په شریعت کښے حرام دے۔

ketabton.com - The Digital Library



دغه شان داځیزونه دفائدے نه خالي دي بلکه خالص ضرر
دے لکه مخکښے بار بار ذکر شو۔

اوالله رب العزت اسراف حرام کړے اومونږ ته ئے خبر
راکړے چه الله اسراف کونکو سره مینه نه کوی لکه ارشاد
دے :

﴿ ولا تسرفوا انه لا یحب المسرفین ﴾

(اسراف مکوئ بیشکه الله مینه نکوی د اسراف کونکو
سره)

دارنګ الله تعالی فرمائی :

﴿ ان المبذرین کانوا اخوان الشیاطین ﴾

(اسراف کونکی دشیطانانو رونړه دی)۔

د تبذیر تشریح دابن مسعودؓ نه داسے نقل ده :

هو انفاق المال فی غیر حقه

(تبذیر دے ته وائی چه بے ځایه مال خرچ کړے شی)۔

او ابن عباسؓ فرمائی :

انفاق المال فی غیر منفعة

(مال په داسے ځائے کښے لګول چه هیڅ فائده نکوی)۔

مجاهدؒ فرمائی :

لو انفق ماله کله فی الحق ما کان تبذیرا



(که انسان خپل ټول مال په حق کښے خرچ کړی، نو دا به
تبذیر نه شمارلے کیږی)۔

(اوګوره : موارد الظمآن لدروس الزمان : (۱۸۷/۵)۔

**محترمو !**

دخپل ځان نه دشیطان رونړه جوړول حرام دی، آیا تاسے
داغواړئ چه دالله تعالی دمینے نه بے برخے پاتے شئ !

علماء کرامو لیکلی دی : چه په صغیره ګناه باندے اصرار
او همیش والے کول دے نه کبیره ګناه جوړیږی، او اصرار
علی الکبیرة انسان کفرطرفته رسوی۔

(اعاذنا الله وایاکم عنه)۔

❀❀❀❀❀❀❀❀

ketabton.com - The Digital Library



# د سګریټ، نسوار او چیلم اخستل خرڅول حرام دی

څکه مخکښې ذکرشو چه داټول څیزونه حرام اوخبیث دی او دحرام څیزونو خرڅول هم حرام وی۔

۱ – قال الله تعالی :

﴿ ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان ﴾

(اویوبل سره دګناه اوزیاتی په کارونو کښې مدد مه کوئ) اوددې په اخستلو ، خرڅولو کښې په ګناه مدد راځی۔

۲ – حدیث شریف کښې دی :

ان الذی حرم شربها حرم بیعها

یعنې : هغه ذات چه ددې (شرابو) څښل ئې حرام کړیدی نو ددې اخستل خرڅول ئې هم حرام کړیدی۔

(مسند احمد (۲۴۴/٤) نسائی (۲۳۰/۲).

معلومه شوه چه دیو شی استعمال حرام وی دهغې اخستل خرڅول هم حرام وی۔

۳ – بل حدیث کښې دی :



ان الله اذا حرم علی قوم اکل شئ حرم علیهم ثمنه.

یعنې : الله چه کله په یو قوم باندې دیو څیز خوراك حرام کړی نو دهغې قیمت (روپۍ، پیسې) پرې هم حراموی۔

(مسند احمد : ۲٤۷/۱)، ابو داود (۱۳۷/۲).

٤ – بل حدیث کښې دی :

ان الله اذا حرم شیئا حرم ثمنه.

(الله چه کله یو شے حرام کړی دهغې قیمت هم حراموی)۔

(رواه ابن ابی شیبة عن ابن عباسؓ).

اوګوره : فتاوی الاسلامیة (۱۷۷/۲)، فتاوی اللجنة (۵۵ – ٦۳)، فتاوی ثنائیه (۱۱٦/۲)، فتاوی الدین الخالص تفصیلاً (۱۵/۳) لشیخنا ابی محمد امین الله حفظه الله، الفقه علی المذاهب الاربعة (۳۹/٥)، الفتاوی السعدیة ص (٦۱۵)۔

❁❁❁❁❁❁❁❁

ketabton.com - The Digital Library



# په دے حقله د علماؤ نظر

دلته زه دعلماؤ داقوالو تفصیل نکوم، صرف د الازهر دعلماؤ فتوی دغه شان

په تاریخ (۲۷) جمادی الاولی (۱۴۰۲ هـ) موافق (۱۹۸۲) مارچ کښے دمسکراتو اومخدراتو دمخ نیوی دپاره په مدینه طیبه کښے دعلماؤ اسلامی عالمی کانفرس اوشو چه درے ورځے ئے دوام لرلو، ددغه موادو داستعمال په باره کښے رائے ورکړے شوے.

**اول : دجامعة الازهر د علماؤ فتوی :**

ډاکټر خیاط چه دعالمی صحی ادارے دمشرقی بحیره روم علاقائی دفتر ډائریکټر دے، هغه دتمباکو څکلو اود تمباکو دعمومی استعمال په باره کښے د جامعة الازهر د علماؤ نه فتوئ اوغوښته، او هغوی ته ئے د تمباکو د استعمال اود تمباکو څښلو اثرات د جدید سائنسی تحقیق نتائج هم پیش کړل.

جامعة الازهر دا تحقیق دخپلو لسو محققینو علماؤ مخے ته وړاندے کړل اود هریو نه ئے په دے باره کښے فتوی



اوغوښته.

دے لسو واړو علماؤ دامتفقه فتوی ورکړه چه اسلام دتمباکو داستعمال ممانعت کوی.

په دے لسو علماؤ کښے د(۸) علماؤ فتوی داوه چه تمباکو څښل حرام دی.

اود (۲) علماؤ فتوی داوه چه تمباکو څښلو حد دمکروه تحریمی نه تر حرامو پورے دے.

(ماخوذ از : عرب نیوز، ددینیانو صفحه، بحواله (اسلامی طرز فکر(۱۹۲/۲) اردو ترجمه : کلیم چغتائی).

دغه شان مدینه طیبه کښے په کال (۱۴۰۲ هـ) الموافق (۱۹۸۲) کښے دمشرانو علماؤ یو عالمی کانفرنس جوړ کړے شو چه دے کانفرس درے ورځے دوام لرلو (۲۷) نه تر (۳۰) جمادی الاولی پورے، اوپه هغے کښے دا لاندینئ فیصله اوکړے شوه :

واصدر قراراً بالاجماع بتحریم تعاطی التبغ بای شکل من اشکال استعماله مضغاً وسعوطاً وتدخیناً، وافتوا ایضاً بحرمة زراعته والا تجار به.

په دے فیصله اوشوه چه دتمباکو استعمال په هرشکل کښے چه وی دچیلم په شکل وی یا سګریټو یا هسے ژویل وی داټول حرام دی، دغه شان ددے کرکیله اوتجارت کول

هم حرام دی)۔

(مجموعة رسائل عن التدخين ص (٤١) تاليف مجموعة من العلماء)، ناشر : ادارة البحوث العلمية والافتاء.

علامه ابن باز مفتی الدیار السعودیه فرمائی :

التدخين من المحرمات المضرة بالدين والدنيا والصحة.

(الفتاوى الاسلامية (٢/٢٧٧).

(سگریټ، چیلم دهغه حرامو څیزونو نه دی چه دین، دنیا او صحت ته ضرر رسوی)۔

دغه شان فرمائی :

الدخان من الاشياء الضارة والخبيثة، وقد اجمع العارفون به من الاطباء وغيرهم على انه مضر بالصحة خبيث العاقبة خبيث الرائحة. (الفتاوى الاسلامية : ٢/٢٧٧).

(سگریټ، چیلم دهغه څیزونه نه دی چه خبیث هم دی او انسان ته ضرر هم ورکوی، اوکوم طبیبان وغیره چه په دے باندے پوهه دی دهغوی ټولو په دے خبره اتفاق دے چه داصحت له ضرر ورکوی، انجام ئے خبیث دے، بوئے ئے قبیح دے)۔

اوس دمجوزینو دلائل ذکر کیږی اودهغے جواب کوم چه مولانا عمر شریف صاحب هم په یو اشتهار کښے ذکر کړی سره د بعضے زیادت نه ۔

❋❋❋❋❋❋❋❋



# د مجوزینو دلائل

بعضے صاحبان داګمان کوی چه دافیونو کرکیله اودهغے دتجارت جواز په (احسن الفتاوی) اود نیو ټاون اونورو مدرسو په فتاواؤ کښے موجود دے نو لهذا داهم دجواز دلیل دے :

**الجواب :** ولا حول ولا قوة الا بالله :

۱ – شاید دا صاحبان دلائل شرعیه نه پیژنی، ګنے داسے استدلال به ئے کله هم نه وے نیولے۔

ځکه دلائل شرعیه څلور دی :

(۱) کتاب الله

(۲) سنت رسول ﷺ

(۳) اجماع امت

(٤) قیاس (صحیح) صرف دمجتهد دپاره۔

اوپه احسن الفتاوي اونورو فتاوو کښے ددے دلائلو نه یو هم نشته۔

۲ – په دے فتاواؤ کښے ئے دلیل نه دے ذکر کړے اوقانون دادے چه دکومو مسائلو دپاره دادله شرعیو نه ماخذ نه وی

ketabton.com - The Digital Library



هغه به مردود وی۔

علامه عبد الحیؒ الکهنویؒ فرمائی :

قال علی القاری : قال امامنا ای ابو حنیفة :

لا یحل لاحد ان یاخذ بقولنا ما لم یعلم (یعرف) ماخذه من الکتاب والسنة واجماع الامة والقیاس الجلی فی المسئلة۔

(النافع الکبیر ص (۱۸) مجموعة الرسائل (۱/۲۸) -

(ملاعلی قاریؒ فرمائیلی : امام ابو حنیفهؒ فرمائی :

هیچا دپاره داجائز نه دی چه زما په خبره باندے عمل وکړی ترڅو چه ورته دامعلومه نه شی چه ددے مسئلے ماخذ دکتاب الله، سنت رسول، اجماع امت اوښکاره قیاس نه معلوم نشی)۔

زهٔ وایم : چه امامانؒ خو هریو خپله غاړه خلاصه کړیده او فرمائیلی ئے دی چه : هیچا له داجائز نه دی چه زمونږ په خبره بے دلیله عمل وکړی۔

ددے زیات تحقیق زمونږ د شیخ ابو محمد امین الله حفظه الله په فتاوی کښے کتلے شئ۔

دغه شان د تقلید بے دلیله خبرو منل چه کوم نقصانات دین کښے پیدا کړیدی نو ددے نقصاناتو خو اول اول رب العالمین ډیر ښه خبر دے اوبیا روسته ددین اهل حق علماء



اوکه تاسے دتقلیدنه اوددے خبرے چه بے دلیله خبره منل دین ته څومره نقصان رسوی معلومول غواړئ نو دفقیه العصر شیخ ابو محمد امین الله حفظه الله کتاب : (دتقلید حقیقت) مطالعه کړئ چه ډیر فائده مند کتاب دے۔

۳ - نن صبا دهغے فتوو هیڅ اعتبار نشته چه په هغے باندے ئے دلیل نه وی پیش کړے۔

علامه شامی لیکی :

واعلم ان ههنا قاعدة مقررة وهی ان المسائل الفقهية ان كانت ماخذها معلوماً مشهوراً من الكتاب والسنة والاجماع فلا نزاع فيها لاحد والا فان كانت اجتهادية ينظر ان نقلها مجتهد و اثبت نقله فكذلك والا فان كان ينقل من قبل نفسه اومن مقدم آخر او اطلق فان كان بين دليلاً شرعياً فلا كلام والا ينظر فان وافق الاصول والكتب المعتبرة يجوز ان يعمل به وينبغی للعلماء ان يطلب عليه الدليل وان خالف ماذكر فلا يلتفت اليه فقد صرحوا ان المقلد ان افتى بلا نقل عن المعتبرات فلا ينظر الى فتواه۔

د علامه شامی ددے خبرے حاصل دادے چه د مقلد مفتی دخبرے هیڅ اعتبار نشته ترڅو چه په خپله فتوی باندے دلیل شرعی پیش نه کړی۔داحنافو داصولو مطابق دمجوزینو دفتوو هیڅ اعتبار نشته۔

ketabton.com - The Digital Library



**٤ - د متاخرینو فتوی او قول چه دلیل نه ماخوذ نه وی نو ددے حکم رد کول دی۔**

وحکمه الطرح والجرح. (النافع الکبیر ص (۱۹)

**٥ - په دے فتوو کښے چه د تحلیل کوم علت بیان شوے دے چه افیون نن صبا دوایانو کښے استعمالیږی نو دا علت او وجه د تحلیل صحیح نه ده۔**

**اولاً :** افیون په اجماع سره حرام دی او مخکښے ذکر شو چه په حرامو شیانو سره دوائی کول حرام دی۔

**ثانیاً :** په افیونو علاج کول په اضطراری حالت کښے مباح دی، اویوشے چه په اضطراری حالت کښے مباح شی نودا په عامو حالاتو کښے دجواز دلیل نه وی۔

اوکه چرے په حرامو ثیزونو سره دوائی کول په حالت داضطرار کښے علت شی دپاره دجواز داخستلو اوخرخولو اوکرکیلے دافیونو نو بیا خو دشرابو کارو بار هم جائز کیدل پکاردی ځکه احناف علماؤ وئیلی دی چه که یو سړی ته سخت مرض وریپښ وی اویو پوهه طبیب ورته ووائی په ستا علاج په شرابو کښے دے، نو ده له شرابو استعمالول جائز دی۔ (اوګوره : کفایه المفتی (۹/۱۱۲)۔

دغه شان عالمګیریه کښے دی :



یجوز للعلیل شرب البول والدم واکل المیتة للتداوی اذا اخبره طبیب حاذق.

(بحواله کفایة المفتی (۹/۱٤٥) و کذا فی الشامیة (۲/۲٤۹).

**ثالثاً :** که چرے دافیونو دحلال والی علت داشی چه داپه دوایانو کښے استعمالیږی ، نو بیا خو داعلت په شرابو، وینه اومرداره کښے هم ملاویږی، نو بیابه په عامو حالاتو کښے دهغے حکم څنګه وی ؟

**٦ - د (نیو ټاون) والا فتویٰ غلط او خطاء ځکه ده چه په هغے فتاوی کښے مفتی صاحب لیکلی دی :**

افیون چه داندازے دسکر نه کم وی په دوائی کښے ئے استعمالول جائز دی، اود سکر (نشے) داندازے نه چه زیات وی بیائے استعمالول ناجائز دی۔

حالانکه په مسکراتو (نشه آور ثیزونو) کښے داتقسیم کول دصحیح احادیثو نه خلاف دی کوم چه مخکښے ذکر شو، چه رسول الله ﷺ فرمائی :

(ما اسکر کثیره فقلیله حرام)

(دکوم ثیز چه ډیرے اندازے استعمالولو سره نشه را ولی، دهغے کمه حصه استعمالول هم حرام دی)۔

دارنګ دافتوی د اصول فقه حنفی نه هم خلاف ده،

ketabton.com - The Digital Library



ځکه داامام محمدؒ په نیز لکه څنګه چه دنشه آورو څیزونو ډیره حصه حرامه ده، دغه شان دهغې کمه حصه هم حرامه ده۔

اوډ احنافو په نیز فتوی هم داامام محمد په خبره ده لکه ددې تفصیل مخکښې تیر شو۔ لهذا دا فتوی غلطه اوبې بنیاده ده۔

دغه شان دنیو تاون په فتوی کښې دی:

دافیونو کرکیله اودهغې اخستل خرڅول جائز دی۔

بیا ددې دلیل ذکر کوی او فرمائی: لکه شامی کښې دی:

وصح بيع غير الخمر، صحة بيع الحشيشة والافيون قلت: وسئل ابن نجيم بيع الحشيشة فكتب لا يجوز فيحمل ان مراده بعدم الجواز عدم الحل.

نو ددې یو څو جوابه دی:

**اولاً**: په دې غور کول پکار دی چه مفتی صاحب چه کوم دلیل ذکر کړیدې دا ددلائلو شرعیه ؤ نه دې اوکه نه؟

**ثانیاً**: ددرمختار مصنف وائی: چه دا حرام دی اود لیل ئې حدیث درسول الله ﷺ پیش کړې چه رسول الله ﷺ ددې نه منع کړیده۔ لیکن شامی ددې حاشیه ده، اوهغې کښې جواز ته اشاره ده، خوپه دې خبره نه دلیل شته نه بل څه



عقلی خبره۔

اودا اوسنی حنفی مفتیان صاحبان متن پریږدی اوپه حاشیو پسې روان دی، حال دا چه داحنافو په نیز نزد عبرت متن لره ده دې په مقابل دحاشیه کښې، لکه خپله رد المحتار (۳۱۷/٤) کښې دی۔ او دانه دې مګر تقلید دمقلد دې چه هغه مقلد ابن عابدین شامی دې۔ فاعتبروا یا اولی الابصار !!

**ثالثاً**: که مفتی صاحب ددې عبارت ترجمه په اردو یا پښتو کښې کړې وې نو شاید سوال کونکی ته به په خپله معلومه شوې وه چه دافیونو کرل حرام دی، حلال نه دی۔

اوس اول ددې عبارت ترجمه واورئ:

سیوا د شرابو نه دنورو (نشه آورو) څیزونو اخستل خرڅول صحیح دی له دې وجې نه دبهنګو اوافیونو خرڅول او اخستل جائز دی، زه وایم چه دابن نجیمؒ نه دبهنګو او افیونو اخستلو خرڅولو متعلق تپوس اوشو نو هغه جواب ورکړو: دانه دی جائز، مصنف وائی: چه دابن نجیم مطلب عدم جواز نه عدمِ حل دې۔

نو مصنف په صفا الفاظو سره ووئیل چه دافیونو تجارت نه دې حلال، لیکن:

ketabton.com - The Digital Library



دنیو ټاون دمفتی صاحب نظر په دے الفاظو نه دے لګیدلے۔

دغه شان علامه شامی دافیونو اوچرسو اخستل او خرڅول مکروه تحریمی ګڼړلی دی لکه هغه فرمائی:

ثم ان البيع وان صح لكن يكره. (شامیه : ۳۲۳/۵).

یعنے : دافیونو اونورو نشه آورو ثیزونو اخستل خرڅول اګرکه صحیح دی لیکن مکروه تحریمی خامخا دی۔

دغه علامه شامی په همدغه صفحه کښے فرمائی:

وذكر ابن شحنة انه يؤدب بائعها

یعنے : ابن شحنةؒ ذکر کړیدی چه ددے ثیزونو خرڅونکی له به ادب ورکولے شی۔

**تنبیه** : فقه حنفی کښے چه مکروه مطلقاً ذکر شی نو ددینه حرام مراد وی لکه په بحر الرائق (۱۳۱/۱) کښے دی:

واعلم ان المكروه اذا اطلق فی كلامهم فالمراد منه التحريم الا ان ينص على كراهية التنزيه.

بیا روسته فرمائی:

قال ابو يوسف لابی حنيفة رحمه الله : اذا قلت شئ اكره فما رأيك قال : التحريم.

دبحر الرائق عبارت علامه شامی هم نقل کړیدے۔



(اوګوره : رد المحتار (۲۲۴/۱)۔

جلال الدین الخورزی حنفی هدایه په شرحه کښے هم دا وئیلی دی۔ (الکفایه شرح الهدایه (۴۴۰/۸)۔

سرفراز خان صفدر صاحب په راه سنت ص (۲۵۹) کښے لیکلی دی چه مطلق مکروه دامام ابو حنیفه اونورو سلفو صالحینوؒ په اصطلاح کښے ددے اطلاق په مکروه تحریمی کیږی۔

دغه شان داخبره مشهور محدث، مفسر او فقیه علامه نواب صدیق حسن خان قنوجیؒ هم دابن قیمؒ په حواله ذکر کړیده چه : دسلفوؒ په اصطلاح کښے حرام مراد وی۔

(اوګوره : الدلیل الطالب ص (۵۰۲) لصدیق حسن خانؒ)۔

علامه شامی ددے تفصیل نه روسته فرمائی:

والفتوى على قول محمد، وهو قول الثلاثة لقوله عليه السلام : كل مسكر خمر، وكل مسكر حرام رواه مسلم. وقوله عليه السلام : ما اسكر كثيره فقليله حرام (رواه احمد).

(شامیه : ۲۲۳/۵)۔

لکه مخکښے مونږ ذکر کړل چه دامام محمدؒ په نیز دافیونو تجارت او زراعت (کرکیله) حرامه ده۔

۸- هرڅومره فتاوو نه چه دغه مجوزین استدلال کوی،

ketabton.com - The Digital Library



نو داتول مجتهدين نه دي۔ او علامه شامي فرمائي:

ولا عبرة بقول غير المجتهدين. (شاميه: ۳۳۹/۳).

(دمجتهدينو دقول نه علاوه دبل چا خبرے له هيڅ اعتبار نشته)۔

۹ – که چرے دنيو ټاون والا فتوی په غور سره اوکتل شي نو دهغے نه صفا دافيونو حرمت ثابتيږي ځکه په افيونو چه علاج کولو چه کوم شرائط ذکر دي هغه شرائط بعينه دشرابو په علاج کولو کښے موجود دي، لکه فتوی عالمګيری اونورو کتابونو کښے دي:

ولو ان مريضاً اشار اليه الطبيب بشرب الخمر روی عن جماعة من ائمة البلخ انه ينظر ان كان يعلم يقيناً انه يصلح حله له التناول الخ.

دغه شان په عنايه اوكفاية المفتي (۱۱۲/۹) كښے هم شته۔

سره ددے نه چه دشرابو تجارت بالاتفاق حرام دے نود افيونو جواز به څنګه راشي؟

۱۰ – په اکثرو فتوو کښے مفتيان حضرات په دليل کښے احسن الفتاوی او کفايه المفتي ددليل په طور ذکر کوي، چه په دغه فتاواو کښے دجواز خبره ذکر ده، ليکن دا دليل داصول افتاء خلاف دے، ځکه دافتاء اصول دادي چه ددے



کتابونو نه فتاوی ورکول صحيح نه دي چه په نوی تصنيفاتو کښے شمارل کيږي اود معتبرو کتابونو نه حواله ئے ذکر کړے نه وي۔

و كذلك الكتب الحديثة التصنيف اذا لم يشتهر عنه وما فيها من المنقول الى الكتب المشهورة.

(معين الاحكام ص (۳۲)، بحواله فتاوی ديوبند (۱۰۲/۱)۔

دغه شان دار العلوم حقانيه يوه فتوی درسالے په شکل شائع کړيده چه دمفتي غلام قادر تحقيق دے اوهغے کښے دادي چه:

مفتي کفايت الله په کفاية المفتي کښے کومه حواله نه ده پيش کړے اودهغه عبارت اوګورئ چه نه ئے حديث، نه ئے دکوم مجتهد قول په دليل کښے پيش کړے، نودا صرف دکفايت الله رائے ده۔ (ص: ۲۷)۔

دارنګ هغوی فتاوی ديوبند اونورو مجوزينو ته ښه جوابونه ورکړيدي۔

**تنبيه**: داحنافو اقوال اودهغوی تفصيلات مونږ علی سبيل الزام الخصم ذکر کړيدي، والا فلاحاجة الى قول احد في مقابلة قول الرسول صلى الله عليه وسلم۔

❀❀❀❀❀❀❀❀

# د مجوزینو د بعضے شبهاتو جوابونه

مجوزین اکثر د عوامو خلقو مخکښے دادلیل پیش کوی چه د افیونو لفظ په قرآن او حدیث کښے نشته نو له دے وجے نه دا حلال دی۔

نو ددے **اعتراض** جواب ته حاجت نشته چه ذکرئے کړم، ځکه دا اعتراض په جهالت او حماقت باندے بناء دے، لیکن د عوامو دفائدے دپاره جواب ورکولے کیږی۔

په دے خبره ځان پوهه کول پکاردی چه اکثر مسائل کلیه دی جزئی مسائل ډیر کم دی۔

ددے جملے نه یو دا هم دے چه:

ان رسول الله ﷺ نهی عن کل ذی ناب من السباع.

(رسول الله ﷺ د هر داړور درنده حیوان دخوړلو نه منع فرمائیلے ده)۔

چنانچه ګیدړ، پړانګ، لیوه، شرمخ په دے کښے داخل دی، دارنګ هغه فرمائی:

وعن کل ذی مخلب من الطیر

(منع فرمائیلے ده د هر پنجو والو مارغانو نه)۔



(کوم مارغان چه چه خپلو پنجو باندے ښکار کوی لکه باز، تپس، وغیره دے کښے داخل دی)۔

که چرے دغه کلیاتو ته اونه کتل شی، نو پته نه لګی چه دغه مجوزین حضرات به ګیدړ، پړانګ، شرمخ په څه دلیل باندے حرام ګنړی۔ یا شاید په قرآن او حدیث کښے دګیدړ، شرمخ، اولیوه نوم نه ذکر کیدو په وجه باندے به ددوی په نیز باندے دغه حیوان هم حلال وی !!

که چرے ګیدړان اونور درندګان دشریعت دکلیات اوقواعد په وجه حرام ګنړی نو شریعت داقاعده کلیه هم بیان کړیده چه:

کل مسکر خمر، او کل مسکر حرام.

(هر نشه پیدا کونکے شے شراب دی اوهر نشه پیدا کونکے شے حرام دے)۔

دتفصیل دپاره اوګوره: فتاوی ثنائیه (۱۱٤/۲) لمولانا ابو الوفاء ثناء الله امرتسری رحمه الله تعالی) ۔

نو افیون ددے باوجود چه په نشه راوستو کښے په هغه نمه ده۔ سره ددے چه محدثینو اوفقهاؤ په (کل مسکر حرام) کښے افیون شامل کړیدی لکه مخکښے ذکر شو۔

**دویم اعتراض** :

مجوزین وائی : که چرے دافیونو تجارت حلال نه وے نو په احسن الفتاوی اونورو فتاوو کښې به ئے دیته جائز نه وئیلے۔

**جواب :** دهر عالم فتوی دهغه ددلیل پورے اړه لری، که دلیل ئے قوی اوپوخ وی نو فتوی به ئے معتبره وی اوکه نه وی نو بیا ورله اعتبار نشته، صرف دعالم فتوی چه ددلیل نه خالی وی واجب العمل نه وی ۔

**دریم اعتراض :**

بعضے صاحبان وائی : که په حرامو سره تداوی کول جائز نه وے نو رسول الله ﷺ به عرنیینو ته داوښانو دمتیازو ښنبلو حکم نه کولے دعلاج دپاره ۔

(عرینینو یو څو کسان وو مدینے ته راغلل او مسلمانان شول، لیکن روسته مریضان شول، خیتے ئے خرابے شوے، رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمائیل : تاسے داوښانو متیازے او پئ (شوده) اوڅښئ لکه داحدیث ترمذیؒ وغیره نقل کړیدے۔

**جواب :** (۱) خپله داحنافو علماؤ نه واوره :

په دے حدیث کښې چه کومه واقعه راغلے ده دا جزئی واقعه ده او حدیث : (لا تداووا) اوددے نه علاوه نور احادیث



عام اوقانون کلی دی۔ او قاعده داده چه دلیل هغه پکاردے چه دقانون او قاعدے په شکل وی، او جزئی معامله خاص دلیل نشی جوړیدے لکه دا جواب مولانا محمد ابو الحسن په تنظیم الاشتات (۲٤۷/۱) کښې کړیدے ۔

(۲) جواب : داکوی چه داخاص وه ترهغوی پورے۔

اوګوره : تنظیم الاشتات (۲٤۷/۱) فتح القدیر (۸۸/۱)۔

(۳) جواب داکوی : چه ددے حدیث نه جواز دتداوی بالحرام معلومیږی اود (لا تداووا بالحرام) او (ان الله لم یجعل الشفاء فیما حرم علیکم) اخرجه البیهقی وابن حبان : ان النبی ﷺ نهی عن الدواء الخبیث) وغیره احادیثو نه منع دتداوی بالحرام معلومیږی۔

او اصولی قانون دادے چه کله مبیح اومحرم سره تعارض شی نو ترجیح به محرم له وی۔

اذا اجتمع المبیح والمحرم فالترجیح للمحرم۔

اوګوره : اعلاء السنن (۲۹۸/۱)، القواعد الفقیه ص (۵۵) الاشباه والنظائر ص (۹۳)۔

**دریم الزامی جواب :**

مجوزین حضرات ځانته دامام ابو حنیفه مقلدین وائی، امام ابو حنیفهؒ په نیز داوښ متیازے که ددوائی دپاره

ketabton.com - The Digital Library



وی اوکه دغیر دوائی دپاره وی جائز نه دی، نو تاسے ئے ښنگه جائز ګنړئ!

(اوګوره: البحر الرائق (۲۹۵/۸) عالمګیریه، فتح القدیر (۸۹/۱)-

شامیه (۱۶۵٤/۱) کښې دی:

ولا یشرب بوله اصلاً لا للتداوی ولا لغیره عند ابی حنیفة

نو چه د امام ابو حنیفه په نیز ددے ښښل جائز نشو نو ستاسے به پدے باندے نور قیاسات ښنګه صحیح شی! چه دا خبره کوئ چه: دمتیازو ښښل جائز دی ددوائی دپاره نو دا محرمات هم قیاساً جائز دی ددوائی دپاره!

**دویم رد:**

صاحبانو! په دے حدیث دعرنیینو باندے چه کله علماء کرام دلیل نیسی په طهارت دبول دمایوکل لحمه باندے نو تاسے ددے نه شپاړس جوابونه کوئ۔

۱ – رسول الله ﷺ ته ددے وحی شوے وه۔

لکه داخبره عینی شرح بخاری کښې کړیده (۱٥٤/۲)، درس ترمذی (۲۹۱/۱) بحر الرائق (۱۱٥/۱)-

۲ – داحدیث خو تاسے منسوخ ګنړئ چه حقیقت کښې منسوخ نه دے۔



(اوګوره بحر الرائق (۱۱٤/۱) فتح القدیر (۸۸/۱) کفایة علی هامش فتح القدیر (۸۹/۱) تنظیم الاشتات (۱٤۸/۱).

۳ – داخاص دے تر هغوی پورے۔

فتح القدیر (۸۸/۱) تنظیم الاشتات (۲٤۷/۱)-

نو اوس دلته ښنګه دخپل مطلب دپاره دخاص نه عام جوړوئ! دمنسوخ نه غیر منسوخ جوړوئ چه احکام ورنه راوباسئ۔

په یو ځائے کښې وایئ چه داخاص دے اوپه دے ځائے کښې مو عام جوړ کړو۔

په هغه ځائے کښې چه کله طهارت دمایوکل لحمه خبره راغله نو تاسو وائے: دا حدیث منسوخ دے، لکه مخکښې د کتابونو حوالے تیرے شوے، او چه کله د تداوی بالمحرمات خبره راشی نو بیا دا منسوخ نه وی، بلکه مقلد نه مجتهد جوړ شی!! اوددے نه حکم دتداوی بالحرمات راوباسی! عجیبه خبره!

دروغ گورا حافظه نباشد

دغه شان په دے ځائے کښې دامام ابو حنیفهؒ خبرے له خبره اعتبار نه ورکوی۔

عجیبه خبره ده، یو ځائے کښې هغه خاص وو، اوس عام

ketabton.com - The Digital Library



شو، يوځائے منسوخ وو، او دلته غير منسوخ شو، يوځائے مقلد وو او دلته مجتهد شو!! اوددے نه احکام دجواز د تداوی بالمحرمات راوباسی۔

يوځائے کښے دامام ابو حنيفةؒ خبره دکانړی کرښه ګنړی، اوچرته چه دپيسو خبره راغله، چه نن صبا په افيونو کښے پيسے ډيرے دی نوبيا نه تقليد شته نه امام!

(تعس عبد الدينار وعبد الدرهم) !!

دورنگی چھوڑ کر ایک رنگ ہوجاؤ

سراسر موم ہو یا سنگ ہوجاؤ

ددے نه د تقليد سپيره توب معلوميږی۔

اوکه څوك وائی چه **تقليد** تاوان نه کوی اود تقليد په وجه يو کس دآيت او د حديث غلط تاويل کونکے او تحريف کونکے نه جوړيږی : نو هغه دے د الشيخ فقيه العصر ابو محمد امين الله البشاوری حفظه الله تحقيقی اوعلمی کتاب (**دَ تقليد حقيقت**) مطالعه کړی، چه د مذکوره دعوے دليل ورته وربنکاره شی!!

❁❁❁❁❁❁❁❁



# د افيونو اونورو نشه راوستونکو شيزونو په روپو کښے د زکوٰة حکم

ډير خلق مونږ نه داتپوس کوی چه دافيونو په پيسو کښے زکات شته، اوکه نه!

نو **اول** خو داخبره زده کول پکاردی چه افيون په خضرواتو کښے داخل دی، اودخضرواتو په باره کښے د الله درسول ﷺ فرمان دے چه په دے کښے زکات نشته!

زکات صرف په پنځو شيزونو کښے واجب دے چه دزمکے نه راتوکيږی :

(۱) غنم (۲) جوار (۳) اُوربشے (٤) کجورے (٥) اوڅکے۔

ددے نه علاوه دراجح قول مطابق په نورو شيزونو کښے زکات نشته، بلکه دهغے په پيسو کښے زکات دے چه کله په هغه روپو باندے کال تير شی، نو زکات به په کښے ورکوی، اوداخبره په حديث کښے راغلے۔

**دويمه خبره** داچه : په روپو افيونو وغيره کښے چه کله ورباندے کال تير شی زکات شته که نه ؟

ketabton.com - The Digital Library



مثلًا یو سړی افیون خرڅ کړو او یو لك روپۍ ورنه اوشوے اوپه دغه روپو باندے کال تیر شو، نواوس به ددے روپو زکات ورکوی، اوکه نه؟

## نو ددے دوه صورته دی:

۱ – که ددے نه مخکښے ده ته دامعلومات نه وو چه افیون کرل اودهغے خرخول گناه ده، اویا داچه په یو عالم باندے دده اعتماد وو اوهغه ورته فتوی ورکړے وه چه افیون کرل جائز دی، نو ده چه کوم مال جمع کړیدے دا مال دده دے اوزکات به هم ورکوی، لیکن دے نه پس به توبه اویاسی چه داکار به زه نور نه کووم۔

۲ – دویم صورت دادے چه یو سړی ته دامعلومه وی چه افیون کرل گناه ده اود یو عالم دطرفه دقرآن اوحدیث په رڼا کښے ئے ددے دحرمت فتوی لیدلے اویا اوریدلے وی اوبیا هم افیون اویا نور نشه آور ثیزونه خرخوی اودهغے کرکیله کوی، صرف د یو مُلا په اوتو بوتو ځان خطا کوی، نوددے سړی مال حرام دے په حرام مال کښے زکات نشته۔

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

ان الله طیب، لا یقبل الا طیب، وان الله امر المؤمنین بما امر به المرسلین ...... الحدیث.



(الله تعالی پاك ذات دے، نه قبلوی مگر پاك ثیز (صدقه) او الله تعالی مومنانو ته دهغه ثیز حکم کړے کوم ئے پیغمبرانو ته کړیدے، چه اے زما رسولانو! پاکیزه ثیزونه خورئ او نیك عملونه کوئ، (داحکم ئے لکه څنگه چه رسولانو ته کړیدے دغه شان ئے مومنانو ته هم کړیدے)۔

(رواه مسلم).

نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه زکات په حرام مال کښے نشته ځکه هغه الله رب العزت دسره قبلوی نه، نو ورکولو کښے فائده څه شوه !!

دغه شان ترمذی شریف کښے حدیث دے چه:

(الله رب العزت د حرام نه صدقه نه قبلوی)

نو هرکله چه په دے زکات نشته، نو اوس به په دے مال باندے څه کوی؟

نو مخکښے تیر شو چه که ده ته پته نه وه چه داکوم کسب زه کوم داحرام دے، نو دامال دده دے لیکن روسته به داکار نه کوی۔

اوکه چرے ده ته پته وه چه مثلًا افیون کرل حرام دی یائے دعلماؤ فتوی ئے لیدلے اوکتلے وی اوبیا هم دکار کوی،

ketabton.com - The Digital Library



نوددے مال نه چه کومے پیسے ده واخستلے هغه به ټولے صدقه کوی دفراغ الذمه په نیت باندے یعنے په دے نیت باندے به ئے صدقه کړی چه الله رب العزت دده غاړه خلاصه کړی، دثواب نیت به ددے حرام مال په صدقه کولو کښے نه کوی۔

(اوګوره : مفید العلوم ومبید الهموم ص (٢٢٩) الباب الثالث فی احکام المال الحرام لزکریا بن محمد القزوینی۔ زاد المعاد (٧٧٨/٥) للامام ابن القیم، مجموعة الفتاوی لابن تیمیة (٤١٢/٢٩)، الفتاوی الاسلامیة (٤٠٢/٢) رد المحتار (١٣٠/٤، ٢١٩)، والتفصیل فی فتاوی الدین الخالص ، للشیخ ابی محمد امین الله البشاوری حفظه الله)۔

اود یو کس چه ټول مال حرام وی په دے کښے زکات نشته۔

(اوګوره : فقه الزکات ص ١٣٣/١ للدکتور یوسف القرضاوی فتاوی دیوبند (٤٩/٦) احسن الفتاوی (٢٩٣/٤) مجموعة الفتاوی لعبد الحئ اللکهنوی (٦٥٣/١) فتاوی حقانیه)۔



# آیا په حرام مال حج کیږی ؟

داتپوس هم موږ نه ډیر کیږی، نو زما ورونو !

ځوك چه دحج غم کوی اویا ددے تپوس کوی، هغه له پکاردی چه داتپوس اوکړی چه ماله د احرام مال استعمالول جائز دی که نه !

په هغه داواجب دی چه دا حرام مال دځانه لرے کړی لکه مخکښے تیر شو۔

او دا کس چه حج کوی د الله دویرے دوجے نه ئے کوی، او حج کول دالله حکم ګنړی، نودا کس دے داهم د الله حکم اوګنړی چه دا حرام مال استعمالول ماله جائز نه دی ! زما حج کول په دے باندے نۀ قبلیږی، زما مال چه حرام وی، دعا ګانے اونور عبادتونه به مے نه قبلیږی۔

لکه حدیث شریف کښے راځی :

یو سړے به وی، اوږد سفر به اوکړی، ببر سر، سپیره حالت کښے به وی، لاسونه به ئے پورته کړے وی آسمان طرفته، یارب ! یارب ! به کوی (دعاګانے به غواړی) حال دادے چه دده خوراك به حرام وی، څښاك به ئے حرام وی، جامه به ئے

ketabton.com - The Digital Library



حرامه وی، نو څنګه به دده دعا قبوله شی !

دغه معنے باندے (چه په حرام مال باندے حج نه کیږی) ډیر احادیث راغلی دی۔

(اوګوره : فقه السنه : (۳۵۱/۱) جامع العلوم والحکم۔

لیکن : کله چه یو سړے په حرام مال باندے حج اوکړی آیا دده حج اوشو اوکه نه ؟ آیا دده ذمه فارغه شوه، که نه ؟

په دے کښے دَ علماؤ اختلاف دے :

۱ – اکثر علماء وائی چه یو سړے په حرام مال باندے حج اوکړی، نو فرض ئے ادا شو لیکن کوم ثواب چه الله رب العزت حاجی ته په حج کولو باندے ورکوی هغه ثواب دده دپاره نشته، کوم ثواب چه دحج مبرور دے هغه به دده نه کیږی۔

ځکه دحج مبرور یو شرط علماء دابیانوی چه په دے حج حلال مال خرچ کړے شوے وی، لکه مرعاه شرح مشکات (۳۰۵/۸) کښے علامه مبارکفوریؒ نقل کړیدی۔

اودے مثال دادے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

کومے زنانه نه چه خاوند ناراضه وی، دهغے مونځ نه قبلیږی، کوم غلام چه دخپل آقا نه اوتښتی، دهغه مونځ نه قبلیږی، کوم مونځ چه بغیر دخشوع نه اوکړے شوی



هغه نه قبلیږی۔

دغه شان نور ډیر روایات ددے متعلق راغلی دی۔

نوددے ټولو مطلب دادے چه الله تعالی په دے مونځ باندے دوئ له ثواب نه ورکوی، اګرکه دے کسانو په دے صفت باندے مونځ اوکړو نودوئ ته به په اعادے (مونځ راګرزولو) باندے حکم نه کیږی۔

او مونږ چه حج کوو، نو دثواب دپاره ئے کوو چه الله رب العزت زمونږ ګناهونه معاف کړی، اوزمونږ ثواب اوشی، صرف دفراغ الذمه نیت خونه وی۔

دے وجے نه دامام مالك نه چا سوال اوکړو چه که یو سړے دغلا په روپو باندے واده اوکړی، نو آیا داد زنا سره مشابهت لری ؟

نو هغوی ورته اوفرمائیل :

ای والذی لا اله الا هو

یعنے : آو! قسم په هغه ذات چه دهغه نه سیوا بل څوك حقدار دبندګۍ نشته (داد زنا سره مشابهت لری)۔

(اوګوره : مرعات شرح مشکاة (۳۰۵/۸) للعلامه ابو الحسن عبید الله المبارکفوری تفصیلاً، فتاوی اللجنة (۴۳/۱۱)، مجموعة الفتاوی لشیخ الاسلام ابن تیمیه (۸۹/۲۱)

ketabton.com - The Digital Library



(۳۰۳/۲۶) رد المحتار (۱۴۰/۲) کفایه المفتی (۳۲۹/٤)۔

او ددې مثال علماؤ داهم ورکړې چه:

یو کس په حرامو اوبو باندې اودس اوکړی نو اودس خو اوشو، لیکن گنهگار دې، الله رب العزت په دې اودس باندې ده له ثواب نه ورکوی۔

یا یو سړې دغصب په زمکه مونځ کوی، نو فرض خو ادا شو لیکن دثواب طمع دې نه کوی۔

۲ – دویم قول دعلماؤ داد ې چه:

په حرام مال باندې حج نه کیږی، اودا قول دامام احمدؒ نه نقل دې لکه مرعات (۳۰۷/۸) کښې علامه مبارکفوریؒ نقل کړیدې۔

دغه شان فتاوی نذیریه (۱۲۳/۲) کښې علامه سید نذیر حسین دهلویؒ فرمائی:

حرام مال سے حج کرنا درست نہیں

(حرام مال سره حج کول صحیح نه دی)۔

دغه شان نورو علماؤ هم وئیلی دی۔

(اوگوره: جدید فقهی مسائل، فقه السنه وغیرهما)۔

❁❁❁❁❁❁❁❁



## تطبیق اوراجح قول په دې کښې دادې چه

چاسره حرام مال وی نو په ده حج فرض نه دې، اوکه چا وریاندې اوکړو نو دحج چه کوم اجر اوثواب دې، الله رب العزت هغه ده ته نه ورکوی، البته دفرضیت ذمه دده ساقطه شوه، دعهدې فرضیت نه اووتلو۔

نو په حرام مال باندې حج کول نه دی پکار، ځکه حج خو ددې دپاره کیږی چه انسان الله ته ځان نزدې کړی، د الله رضا حاصله کړی، د انسان گناهونه وریاندې ورژیږی، صرف ددې دپاره خونه وی چه تاته خلق حاجی صاحب روائی۔

اوکه چا وریاندې اوکړو نو دنیا کښې خو به ورته حاجی صاحب اووئیل شی، لیکن آخرت کښې دې دحج د ثواب اُمید نه کوی۔

ان الله طیب، لایقبل الا طیبا۔

الله تعالی پاك ذات دې، صرف پاکیزه څیزونه قبلوی!!

❁❁❁❁❁❁❁❁

ketabton.com - The Digital Library



**په آخر کښې :**

بعضے خلق داخبره کوی چه افیون مونږ ځکه کرو، سګریټ، نسوار ځکه استعمالوو چه فلانے عالم، فلانے مولوی صاحب په خپله داکار کوی، یا هغه ورته جائز وائی، اوپه دے خبره ځان خطا کوی۔

**محترمو !**

دالله جل جلاله نه ویره پکار ده، په دے خبره ځان پوهه کول پکار دی چه دعالم په خبره یا عمل باندے یو شے نه حلالیږی، که هغه هرڅومره غټ عالم ولے نه وی !

اوکه دیته اوکتل شی، نو بیاخو ډیر داسے شیزونه شته دے چه قرآن او حدیث کښے حرام دی او بعضے علماء ورته جائز وائی، تورته سپین، اوسپین ته تور وائی مثلاً :

۱ – چا ډمتوب ته دقوالئ نوم ورکړو، اوساز باجے، ربابونه اوری اودیته جائز لا څه کوے دثواب کاروائی، والعیاذ بالله !

اود رسول الله ﷺ ددے قول مصداق اوګرځیدل چه زما امت کښے به داسے خلق راشی چه دټهنګ ټکور سامان به جائز ګنړی۔

۲ – چاشرك ته دکرامت، کشف اود اولیاؤ دعزت نومونه



ورکړو، کاربه دشرك کوی نوم به وربانده داولیاء دتعظیم ګدی۔

دعوے دغیبو کوی، نوم ئے دکشف، کرامت ورکړو۔

۳ – چا د حربی کافرانو قتل حرام اود هغوی سره جنګ بغاوت اوګنړلو، اوحربی کافر ته ئے دمستامن نوم ورکړو!

٤ – چا جهوریت ته جائز اووئیلو، اوجمهوریت ته عدل، حریت او آزادی وائی !

حال داچه دجمهوریت معنے داده چه حاکمیت به د اکثریت او عوامو وی، که ډمان ډیر وو، نو دهغوی رائے به اخستلے شی، که مقابل کښے ئے ابن تیمیهؒ او امام ابو حنیفهؒ ولے نه وی !

٥ – چا ربا الفضل ته جائز اووئیلو۔

٦ – چا درسول الله ﷺ خالص تابعدارئ ته چه درسول الله ﷺ دقول او فعل په مقابل کښے دهر مُلا ، عالم خبره وروسته کول اود رسول الله ﷺ قول اوفعل مخکښے کولو ته دلا مذهبیت، لا دینیت نوم ورکړو !

دارنګه چا افیون کرل، ددے اخستل خرڅول جائز کړل، دارنګه چا سګریټو نسوارو ته جائز اووئیل، اودلیل کښے ئے دابهانه اونیوله چه کتابونو کښے دی چه داجائز دی،

ketabton.com - The Digital Library



دارنګ بعضو اووئیل چه افیوڼ په دوائی کښ استعمالیږی نو ځکه جائز دی، ددے بهانے جواب مونږ تفصیلًا مخکښے ذکر کړیدے۔

دلته داخبره قابلِ غور ده چه:

دفقهے کتابونه خو څه (صحیحین) نه دی چه دے کښے به ضعیفے او خطا خبرے نه وی!

فقه کښے په زرهاؤ مسئلے شته چه بے دلیله دی۔

په سلګونو داسے مسئلے شته چه غلطے اوخطاء دی۔

چه یوه دهغے نه داده چه بعضے فتاوو کښے دافیونو کرکیلے ته جائز وئیلی دی، اودلیل ئے دانیولے چه داپه دوایانو کښے استعمالیږی۔

لیکن ددے جوابونه الحمد لله مونږ مخکښے ذکر کړیدی، ددوی نه ګیله نشته چه په افیونو چه حرام دی اودوائی په دے باندے جائز ګنړی، دفقهے کتابونه ددے نه ډیر سخت حرام شیز باندے هم شفا (تداوی) کول جائز ګنړی، اوهغه د قرآن کریم دانتهائی سپکاوی خبره ده هغه داچه فقه کښے دی چه:

په متیازو اووینه باندے قرآن کریم لیکل دشفاء دپاره جائز دی (العیاذ بالله، واستغفر الله)!



که څوك اووائی چه فقه کښے داخبره نشته اوداپه فقهے باندے تاسے دروغ جوړوئ اوکه وی نو دهغه کتاب نوم اوحواله راکړئ، ځکه دقرآن کریم باره کښے دومره لوئے جرئت کول، اوانتهائی بے ادبی اوسپکاوے کول چه قرآن کریم دشفا حاصلولو دپاره په متیازو یا وینه باندے لیکل، نوداخبره خو یو عام مسلمان هم نشی کولے، فقهاء خو لاپه ځائے پریده!

**نو محترمو!**

مونږ دروغ نه وایو، حواله اودکتاب نوم څه چه په کتابونو به حواله درکړو، دالله په فضل سره:

فتاوی قاضی خان باب الحظر والاباحه (۳۶۵/٤) کښے دی: والذی رعف فلا یرقا دمه فاراد ان یکتب بدمه علی جبهته شیئا من القرآن قال ابو بکر الاسکاف: یجوز قیل لو کتب بالبول قال: لو کان فیه شفاء لاباس به.

(که د یو سړی پوزے نه وینه روانه وی اووینه راواخلی اوپه تندی باندے پرے دقرآن کریم څه حصه اولیکی نو جائز دی)۔

بیا ابو بکر الاسکاف ته اووئیل شو چه که په متیازو باندے اولیکل شی (والعیاذ بالله) نو هغه ووئیل: چه که

ketabton.com - The Digital Library



هغے کښے شفا وی نو خیر دے جائز دی۔

اوداخبره فتاوی سراجیه ص : (۷۵) کښے هم ده۔

دغه شان بحر الرائق ص (۱۱۶) کښے هم ده۔

حموی شرح الاشباه والنظائر باب القاعده الخامسه : الضرر لایزال ص (۱۰۸)۔رد المحتار شرح الدر المختار المعروف بالشامیه باب التداوی بالمحرم (۱/۱۴۰)۔

نودے تولو کتابونو دفقه حنفی کښے دغه خبره ذکر شویده چه که دیو سړی شفا (علاج) په دے کښے وی چه : قرآن کریم په وینه یا متیازو باندے اولیکی نو داکار کولے شی۔

**مسلمانانو ورونو !**

انصاف پکار دے لږ حلالو اوحرامو ته کتل پکاردی، دالله اود هغه درسول دخبرو اودا سلام دشعائرو انتهائی تعظیم او ادب پکاردے، دالله اود هغه درسول ﷺ خبره منل پکاردی اگرکه په ظاهره دهغے په منلو کښے زمونږ تاوان ښکاری خو په حقیقت کښے هغه تاوان نه وی۔

دغه شان الله اود هغه رسول ﷺ چه کله مونږ دیو کار نه منع کړی، دهغے نه ځان ساتل پکاردی، اگرکه دهغے په کولو کښے په ظاهره مونږ ته ډیرے فائدے ښکاری، لکه



سود شو، زنا شوه، غلا شوه، نشے تماشے شوے۔

اوکه داسے اونکړو ، نو زمونږ دایمان دعوی به بیا یے ځائے وی، بلکه دایمان پاتے کیدل به گران شی، اودا زما خبره نه ده بلکه درب العالمین خبره ده چه هیڅ شك اوشبهه پکښے نشته ۔

الله رب العالمین فرمائیلی دی :

﴿ وما كان لمؤمن ولا مؤمنة اذا قضى الله ورسوله امرا ان یکون لهم الخیرة من انفسهم ﴾

یعنے : مومن سړی اومومنے زنانه له دا جائز نه دی چه کله دیو څیز فیصله اوفرمائی چه دوی له دے خپل ځانی اختیاروی۔

بعضے جاهلان دابهانه نیسی اوپه دے خپل ځان غلطوی چه مونږ داځکه کرو چه امریکه اونور کافران ورباندے ټنکیږی، کافران ورباندے مره کیږی۔

نو زما رونړو !

داخبره بیخی غلطه ده، الله اود هغه رسول ﷺ مونږته دکفارو وژلو داطریقه نه ده ښودلے چه کفارو له نشته ورکوئ، اونه په دے باندے فتح اونصرت دمسلمان راځی، بلکه مونږ ته ئے دکفارو سره دجهاد کولو حکم شوے دے۔

ketabton.com - The Digital Library



چه په دے سر او سینه باندے یو څو ګذاره اوخوری په خپله به کفار ماتے اوخوری۔

دریم دا چه : په دے باندے چه کافران مړه کیږی نوددے نه مخکښے وریاندے ډیر مسلمانان مړه کیږی ، دسعودی، پاکستان اونورو ډیرو اسلامی ممالکو عوام مسلمانان په دے باندے مړه کیږی، په قیامت کښے به بیا څوك ددے جواب ورکوی ؟

الله رب العزت دے زمونږ ملك ددے هر قسمه حرام څیزونو نه پاك صاف کړی، الله دے زمونږ ددے ملك اودنورو اسلامی ملکونو حاکمان صحیح مسلمانان جوړ کړی چه د قرآن او حدیث خدمتګار او خورونکی وی، او الله رب العزت دے ددے ناکاره حاکمانونه مونږ ټولو مسلمانانو له نجات راکړی، او الله رب العزت دے زمونږ اود ټولو مسلمانانو اصلاح اوکړی۔

وصلی الله علی خیر خلقه محمد وآله وصحبه اجمعین.

وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك

ربیع الثانی (۱۲/ ۱٤۲٤هـ).

❁❁❁❁❁❁❁❁

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*